PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

جهاد هنداره

مراة الجهاد

دکابل پر پوځي تاسيساتو دمجاهدينو دتوغند يو برید

کابل ، جهادهنداره :
دزړورو مجاهدینو له خوادکابل ښار پر نظامی مرکزونو باندی یو ځل بیا دراکټونو پرله پسی دزی شوی او دښمن ته یی درانه مالی او ځانی تلفات ورارولی دی.
کابل راډيو ددی خبر دخپرولو په ترڅ کی اعتراف کړی چی مجاهدینودمیزان په ١٤ مه نیټه ١٨ راکټه پر کابل باندی ویشتلی چی دنورو تخریباتو سره سره یی دکابل دهوایی ډګر دپرواز لیکی هم تخریب کړی دی.

الحاج حقاني دروس او امريکا وړانديز دافغانانو سره دوکه وبلله

پکتیا دنواي وقت ورځپاڼه :
دپکتیا ولایت نامتو قوماندان الحاج مولانا جلال الدین حقاني دګردیز دجګړي له تودو سنګرونو څخه دیوه پیغام په ترڅ کي دافغانستان دمسئلي دحل په اړه دروس او امریکا وروستي وړاندیزچي دخالقیار او مجاهدینو مخلوط حکومت دي جوړشي ، په کلکه رد کړي اوهغه یي دافغانانو سره یوه دوکه بللي ده.
په خبرونو کي ویل شوي چي الحاج حقاني تر مشرۍلاندي په ګردیز کي دمحلي قوماندانانو شورا دایره شوه او پریکړه یي وکړه چي دافغانستان دربړي دحل په ارتباط دبهر نه تپل شوي هیڅ فیصله به مجاهدینو ته دمنلو وړنه وي .

دوهم کال - څلورمه ګڼه (پرله پسي ٥٦مه) ، چهارشنبه د ١٣٧٠ هـ ش کال دمیزان (١٧مه) د١٤١٢ هـ ق دربیع الاخر (١) د١٩٩١ داکتوبر (٩مه)

جنرال فضل الحق يوغيرتي انصار ؤ

دجهاد له تودو مورچلونو څخه دجنرال فضل الحق دترور په اړه دالحاج حقاني پیغام

٧ مخ

دصوبه سرحدپخواني والي جنرال فضل الحق په شهادت ورسید

په (٧) مخ کي

محترم مرلوی صاحب محمد یونس خالص دجهاد هنداری سره په یوه ځانګړی مرکه کی :

دافغانستان دجګړي اصلي خواوې ، مجاهد ملت او روسان دي ، دکابل رژیم یوازي دروسانو دملیشې حیثیت لري

په (٢) مخ کي

تاجاق اطفال خورد سال به ممالك عربی خلیج فارس

تاحال ١٩ هزار طفل ازپاکستان ربوده شده اند

درصفحه (٨)

اسلام بحيث دومين دين در فرانسه

پاریس ، نیوزویك :
جریده نیوزویك چاپ امریکا طی راپور منتشره خویش اعتراف نموده که دین مقدس اسلام حیثیت دومین دین بزرگ را در فرانسه کسب نموده است ، یك رهبر تبعیدی فرانسوی (رهبر جبهه ملی فرانسه) ادعا نموده است که درطول چند سال اینده از اهل سفید پوست فرانسه (غیر مسلمانان) ان تعدادی محدودی باقی خواهند ماند ، که دردروازه های مساجد مسلمانان به گدایی خواهند پرداخت ، مبصرین می گویند اشاره رهبر موصوف به ان عده مهاجرین کشورهای مختلف اسلامی بخصوص کشورهای عربی می باشد ، که از سالهای متمادی به اینسو نسل درنسل درفرانسه زندگی دارند وباعث ترویج دین مقدس اسلام دران سرزمین گردیده اند .

په ګردیز باندي دبرمیالو بریدونو دڅورورخولند راپورتاژ :

په ګردیز کی کمونستان د ماتي اوګریزپه حال کی !

په (٣) مخ کي

په ګردیز باندی دبمباری دمخنیوی لپاره دبګرام په هوایی ډګر دډدرنو وسلو دزی

په یوه برید کي درژیم دوه جیټ الوتکی له منځه تللی‌دی

په (٨) مخ کي

ملاقات وزرای خارجه ۲ جمهوریت اسیای میانه با منشی عمومی سازمان کنفرانس اسلامی

اذر بایجان ترکمنستان وقرغزستان خواهان عضویت سازمان کنفرانس اسلامی گردیده اند

درصفحه ٨

دڅواکمنو جهادی ډلو مشرانو دعبوری حکومت دجوړیدو په اړه دروسیی وړاندیز رد کړ

په (٧) مخ کي

نظام حالات اضطراری درالجزایر منسوخ گردید

تظاهرات شدیدی درالجزیره براه افتید

درصفحه ٨

سرمقاله

دروسيې نوي وړانديزونه او دجهادي ځواکونو غوڅ دريځ

په افغانستان کی ترشرمیدلی ماتی اوتیښتی وروسته روسانو تل داهڅه کړی او کوي چی په سیاسی او ډیپلوماتیك ډګر کی دافغانستان دقضیی دسیاسی حل په عنوانولو داسی لاری چاری وپلټی چی په افغانستان کی دمجاهدینو په لاس،چی دیوی ناانډوله جګړی له نظامی ډګر څخه بریمن راوتلی او دبشپړبری په درشل کی دی ، دیواسلامی حکومت دجوړیدو په مخکی خنډونه پیدااو دیوداسی مذبذبه او سکولر حکومت درامنځته کیدو شرایط برابر شی چی له یوی خوا تری په راتلونکی کی ددوی تر استعماری ولکی لاندی اسلامی هیوادنو ته چی له افغانستان سره ګډه پوله لری هیڅ ډول خطر نه وی متوجه او له بلی خوا پکی ددوی لپاره دلاس وهنو او دپښبی ایښودلو ځای موجود ، هرډول ګټی یی خوندی او دلاسوپوڅو لپاره یې دهرډول فعالیت حق تضمین شی.

په اتم مخ کي

دمرحوم مولانا مفتی محمود په یاد

په دریم مخ

تاریخ اعماردرمسال در ساحه مسجد بابری اعلان گردید

دهلی جدید ، ١٢ میزان :
حکومت ایالتی درایالت اتراپردیش هند اعلان نموده است که کار تعمیر مندر اجودهیا که در مقام مسجد بابری اعمار می گردد دربین تاریخ های ١٨ اکتوبر الی ١٤ جنوری سال اینده میلادی اغازخواهد یافت این نکته را سکرتر جنرال تنظیم « وشواهند وپرشید » طی گفتگو باخبرنگاران اظهار داشته است .
از جانب دیگر کمیته عمل مسجد بابری از همه تنظیم های سیاسی هند وحکومت مرکزی خواسته است تا هندوهای متعصب راازاین عمل یك جانبه ایشان باز دارد .

په دي ګڼه کي

* تلاش روسها براي به قدرت رسانیدن ظاهرشاه.
* انقلاب اسلامي ما پیروز میگردد.
* دمرحوم مولانا مفتي محمود په یاد.
* داسلافو یادونه دعبرت درسونه
* زه ولي مسلمان شوم؟
او............

ګردیز دمجاهدینو تر اتلوالو بریدونو لاندې

ددښمن دوه قرارګاوې فتحه او یوه هلیکوپترالوتکه راوغورځول شوه

٧ مخ

هرهغه حکومت چې داستکبار په خوښه جوړیږي هغه به عیناً دتره کي ، امین ، ببرك اونجیب دمزدورو حکومتونو په څیر وي،چې هیڅ مستقل حیثیت او اعتبار به نلري .

(الحاج حقاني)

جهاد هنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني
دتاسيس كال : ١٣٦٩ هـ ش

دافغانستان دجګړی اصلی خواوی، مجاهد ملت او روسان دی ، دکابل رژیم یوازی دروسانو دملیشی حیثیت لری

مرکه کوونکي : احمد ضيا "رحيمزي"

پوښتنه : دامریکا متحده ایالاتو او دروسیی حکومت پریکړه کړی چی دنوی میلادی کال له پیل څخه به دافغانستان دجګړی پردواړولوریو وسله او مرستی بندیږی، ستاسی په نظر دغه ډول پریکړه به کوم لوری ته ګټه ولری او کوم لوری ته تاوان ؟

ځواب : پدی هکله زما نظر دادی چی ، استعماری قوتونه هیڅ کله نه غواړی چی په افغانستان کی دی یو اسلامی حکومت منځ ته راشی . په روسیه کی چی کوم اغتشاش منځ ته راغی تر هغی وروسته روسیه دیوه اقتصادی بحران سره مخامخ ده او دایی نشوا ی کولای چی نور دکابل رژیم ته خپلی مرستی ورکړی ، نو ددی لپاره چی دروس او امریکا ترمنځ څه پیوستو ن او نژدی والی راغلی، امریکا هم دروسانو دارضاء لپاره ورسره یوځای داخبره اعلان کړله چی تاسی به هم مرسته نه کوی او مونږ به هم ، داچی اوس امریکا یان یا «تامسن » داخبره کوی چی مونږ روسان دی ته مجبوره کړی دی داهسی دوکه بازی ده حقیقت دادی چی دوی هغوی ندی مجبور کړی . بلکه دوی ځان مجبور کړی چی روسان په دنیاکی خجالت نه شی او ونه شرمیږی ، لکه چی څوکاله مخکی دامریکا دبهرنیو چارو وزارت معاون په اسلام آبادکه وویل ؛ مونږ نه شو کولای چی یو ستر طاقت دی دداوړو پوزی نه بغیر له افغانستان څخه ووزی ، هغه دخبروته په ترڅ کی وویل چی موږ مجبور یو چی هغوی ته یوه داوړو پوزه وګورو . راغلو دی ته چی چاته به ګټه ورسوی او چا ته تاوان ، یقینی خبره ده چی پدی دری ، دری نیمو میاشتو کی به روسان خپل مزدور ته ، هرڅه ورکوی ، او مونږ چی دامریکا خبرو باندی موعمل ند ی کړی او وایو چی امریکا له موږ سره دوکه کړی . نو امریکا خپل ځان مجبور نه ګڼی ، چی هغه دی مجاهدینو ته څه راولیږی او ددی خبر و خطره هم موجوده ده ، چی پدی دریو میاشتو کی په ټولو مهاجرینو باندی هم هرڅوك خپلی مرستی بندی کړی او مهاجرین دی ته اړکړی چی روسانو له مزدور رژیم سره دملی مصالحی په نوم یاپه بل نوم سازش وکړی . او دی ته یی مجبور کړی چی افغانستان ته حرکت وکړی . زما نظر دادی چی نن بین المللی اوضاع ټوله دمسلمانانو او مجاهدینو پرضد باندی عیار یږی او عیاره شوی ده خو مجاهدین باید له دغسی موامرو څخه ونه ویریږی ، دوی باید لدی نه نیك تفاول وکړی لکه چی قرآن کریم مونږ ته حکم کوی : چی الهی نصرت او غیبی مدد مسلمانانو ته هغه وخت رسیږی چی هغوی باندی ټول وسایل قطع شی ، نومونږ داسی فکر کوو چی دوا قعی مجاهدینو دکامیابی ورځی ډیری نژدی شوی دی همداوجه ده چی ممکن ځینی زمونږ هغه مجاهد وورنه ، چی ځان مجاهد بولی او په خدایج باندی یی کامله تکیه نه وی ، او هغوی نن له لراو بر و قدرتونو سره مماشات کوی ، داخلك هم ورځ په ورځ رسواکیږی او دابه دحقیقی مجاهدینو له

پاتې په(٦) مخ

تلاش روسها بخاطر به قدرت رسانيدن ظاهرشاه

عبدالوکیل

روس ها در حالت کنونی به قدرت رسیدن ظاهرشاه رادر افغانستان به نفع خویش میدانند .

ظاهرشاه بعد از کودتای ۲٦ سرطان ۱۳۵۲ درمقابل محمد داود ازشاهی وزمامداری خویش در افغانستان مستعفی گردید ، زمانیکه در ۷ ثور ۱۳۵۷ خلقیهاوپرچمی هابه حمایت روسهارژیم داود را سرنگون نمودند ، به زودترین فرصت تمام دارایی ها واموال منقول وغیر منقول اهل یحیی راضبط وبه تعقیب ان سلب تابعیت خاندان ظاهرشاه را از افغانستان اعلان کردند واهل یحیی راعامل اصلی تمام بدبختی ها ، رنج ها ،استبداد وعقب مانده گی های اقتصادی واجتماعی درافغانستان خواندند . بعداز اشغال افغانستان توسط نیروهای نظامی روس نیز از طرف روسها ومزدوران شان تبلیغات وسیعی علیه ظاهرشاه به راه انداخته شد وعکس های متنوع ظاهرشاه را که نشان دهنده ارتباط غیر مشروع جنسی وی به دختران غرب بود به پیمانه وسیع پخش نمودند ولی زمانیکه قوای نظامی روسها مجبور به فرار از افغانستان گردیدند روسها به قدرت رسانیدن ظاهرشاه رابهترین راه نفوذ وتامین منافع خویش در افغانستان ارزیابی نمودند وارتباط مخفی راباوی قایم ساختند اما چندی بعد به طور علنی ملاقات های متواتر مقامات رسمی روس ورژیم کابل باظاهرشاه جهت به قدرت رسانیدن دوباره وی ، بر قرار گردید . روسها بخاطری به قدرت رسانیدن ظاهرشاه تاکید مینمایند که هرگاه ظاهرشاه وطرفداران وی قدرت سیاسی را در افغانستان به دست گیرند ، در انصورت روسها ازیکطرف از پیشرفت نهضت ملی واسلامی افغانها در جمهوریت های اسلامی آسیای میانه که اکنون تحت تسلط روسها هستند ، جلو گیری نموده می توانند وازجانب دیگر روابط اقتصادی ، سیاسی وفرهنگی موجوده بین حکومت افغانستان وروسها حفظ خواهد شد .

همچنان طوریکه از مصاحبه های ظاهرشاه هویدا میگردد ، درصورت به قدرت رسیدن وی مزدوران شناخته شده روس (خلقیها وپرچمیها) بدون محاسبه ومجازات باقی خواهد ماند وبرای انها زمینه مناسب فعالیت سیاسی بوجود خواهد امد اما خطرناکترازاین انعده ازطرفداران واجنت های روس میباشد که تاهنوز افشانشده وزیر نقاب طرفداران ظاهرشاه فعالیت می کنندوظاهرشاه نیز انها را طرفداران و هم پیمانان خود میداند مطلب اخیرالذکر هم در دوره سلطنت چهل ساله ظاهر به مشاهده رسید و هم در رژیم فردی محمد داود عواقب تلخی را ببار آورد علاوتا درصورتیکه روس ها به تمام امکانات خویش در بقدرت رسانیدن دوباره ظاهرشاه سعی وتلاش بخرج میدهند ، ظاهرشاه نیز شروط وقیودات معینی رابخاطر حفظ منافع روسها قبول خواهد کرد که درانصورت جامعه افغانی را بار دیگر در گرداب بدبختی ها والودگی ها غرق خواهد کرد و به این ترتیب شرایط مساعد برای نفوذ استعمار منجمله استعمار وحشی روس مهیا خواهد گردید.

این یك طرف قضیه بود طرف دیگر قضیه اینست که هر گاه ظاهرشاه یکباردیگر بالای مردم مسلمان وازادی دوست افغانستان از جانب دیگران تحمیل گردد نتایج ناگوار وجبران ناپذیری رادرپی خواهد داشت . درحالت کنونی درخصلت وماهیت ظاهرشاه به ان سویه تغیراتی وارد نشده به اندازه یکه روان ، شعور وخصلت توده های ملیونی مسلمان افغانستان دگر گون شده است اکنون مردم افغانستان بیش از پیش به این حقیقت متعقد هستند که در دوران سلطنت چهل ساله ظاهرشاه بود که دروازه های افغانستان رابه روی روسها باز نمود وموقع اینرا به انها داد تا فعالیت های شیطانی واستعماری خویش را به سهولت انجام دهند

ودرهمین دوره طلایی برای استعمار روسی بود که خاندان ظاهرشاه سد راه رشد اقتصادی واجتماعی کشور گرید اماچیزیکه مربوط به صلح وامنیت در دوره ظاهر بود باید روشن گردد که ظاهرشاه دولت وحکومت مقتدر مرکزی رابه ان سویه نداشت که توانایی صلح وامنیت در افغانستان راداشته باشد این مردم مسلمان و باشهامت افغانستان بودند که نه تنها امنیت را در بین خویش تامین نموده بودند بلکه خاندان ظاهر واطرافیان ان را نیز تغذیه نموده وبه انها شرایط خوب صلح و امنیت را مهیا ساخته بودند همین اکنون تمام مناطق ایکه توسط مجاهدین ازاد شده است از امنیت ونظم خاصی برخوردار میباشند .

این مطلب را باید به طور جدی خاطر نشان ساخت که باید هیچ کس در مورد مردم مسلمان با ایمان وازادی دوست افغان به این سویه بنیش حقارت امیزنداشته باشد که گویا انها نمی توانند بدون وجود یك شخص سالخورده ومحافظه کار تجربه شده وفاقد فداکاری ، صلح وامنیت را درکشور خویش بوجود بیاورند وسرنوشت خویش را خود شان تعین نمایند ، پیروزی اسلام ، استقلال وطن ، خوشبختی ، صلح وامنیت راکسانی میتوانند به این کشور ارمغان بیاورند که باخون شهادت خویش بته ها وسنگلاخ های خاك اسلام راارغوانی ساخته اند پس مردم مسلمان وشهید پرور افغانستان باید دسایس،توطیه ها وساز شهای را که در رابطه به مسله افغانستان در خارج وداخل کشور به راه انداخته می شود نقش بر اب سازند وتاپیروزی نهایی به جهاد مسلحانه ادامه دهند .

انقلاب اسلامي ما پيروز مي گردد

سميع الله تازه

مساله افغانستان درین اواخر باردیگر موضوع داغ محافل ومجامع سیاسی بین المللی گردیده، تلاشهای سیاسی که مجاهدین درجنب گرم نگهداشتن سنگرجهاد برای تقویت موضع عادلانه خویش به پیش می برند رژیم کابل را هرچه بیشتر به مضیقه وتنگناه سیاسی کشانیده است .

مجاهدین درطول سیزده سال جهادحاکمیت خویشرا درسنگرهادرمقابل رژیم دست نشانده مسکودر کابل به اثبات رسانیده واکنون بافعال ساختن دیپلوماسی خویش میخواهند پیروزیهای بدست امده را تشبیت وازان به نفع پیروزی کامل جهاد وبخاطر استقرار یك نظامی اسلامی درافغانستان استفادهٔ سیاسی ودیپلوماتیك نمایند.

درین اواخربوریس پنکن وزیرخارجه شوروی جهت حل قضیه افغانستان پیشنهاد نموده است که مجاهدین میتوانند یك حکومت ائتلافی راتشکیل دهند اما خالقیار صدراعظم رژیم پست خود راحفظ خواهد کرد ،ویا اینکه صحنه به بازگشت محمد ظاهر شاه مخلوع گذاشته شود .

مجاهدین همانطوریکه از آغاز مداخلات علنی وغیر علنی روسها وسایر ین را درامور داخلی کشورما رد نموده اند این طرح مداخله گرانه روسها رابازهم با کلیت آن ردنمودند زیرااین امر واضح است که فضل الحق خالقیار رئیس حکومت کابل ازایجنت های پر سابقه کی ،جی ، بی بوده وبرای ملت مجاهد ما قابل قبول نمیباشد ، همچنان محمد ظاهر نیز درطول جهاد نتوانسته است درغم ودرد ملت همدرد واقعی باشد.

> **فضل الحق خالقيار صدراعظم حکومت کابل از ايجنت هاي پرسابقه کي ، جي ، بي بوده وبراي ملت مجاهد ما قابل قبول نميباشد**

درکنااین طرح روسها رژیم کابل نیز طرحهای راجهت حل قضیه ارائه نموده است ازانجائکه ریشه این طرحهای نیز درداب فاسد رژیم کابل است لذانمیتواند به پرسشهاوخواست های ملت مسلمان ما پاسخ لازم ارائه دهد وقناعت رافراهم نماید.

ازگزارشهای مطبوعاتی چنین نتیجه گیری میشود که دیگرروسها بر بودن نجیب رئیس رژیم کابل دردوره عبوری ویا تشکیل حکومت ائتلافی چندان پافشاری ندارند ، وبر بنیاد بعضی راپورهای مطبوعاتی روسها اکنون دست از حمایت نجیب کشیده اند ، این حقیقت ازین گفته خالقیار صدراعظم رژیم کابل نیز هویدا میگردد که گفته است تمام مشکلاتیکه در سرراه حل مساله افغانستان قرار دارد ازطریق مذاکره با مجاهدین حل شده میتواند ، باید گفت که نجیب یکی از ان موانع است که در هرگونه راه حل مساله افغانستان وجود دارد ، مجاهدین نجیب را بحیث رئیس رژیم مزدور دست نشانده مسکو شناخته وهم به موصوف بحیث کسی که هزاران هموطن مارامحکوم به مرگ نموده ویاشخصاً شکنجه داده است اعتبار قایل نیستند ، بنأ درگام نخست نیروهای جهادی دزان گونه راه حل بر کناری نجیب راتقاضادارند .

جریانات جاری نشان میدهد که این هدف مجاهدین انشاالله بزودی بدست خواهد امد ، علاوه ازان پیروزیهای که درمیدان سیاست نصیب مجاهدین خواهد شد ، دربخش نظامی درسنگرهای

درمخ (۷)

په ګردیزکی کمونستان دماتي اوګریز په حال کی

دراپور تهیه کوونکی : ننګیال   عکاسي احمد سینا احمدي

دخوست،دستری او تاریخی فتحی په دریمه ورځ دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدین حقاني دبی،بی سی راډیو دخبریال دیوی پوښتنی په ځواب کې وویل مجاهدین به دخوست له فتحی وروسته مخ په وراندی ځی په لومړی سر کې به په ګردیز دعملیاتو پلان تطبیق کیږی اوبیا به پر غزنی او قلات هم دعملیاتو دپیل کیدو نقشه عملی کیږی .

له هماغه ورځی د خوست دفاتح په هدایت مجاهدینو دستوکندو په استقامت پرمختګ پیل کړدشهید سلمانشا زرهدار غوند په ستوکندو کې داسمانی په منطقه کې خپلی قواوی او زغروال وسایط ځای په ځای کړل دسلمان فارسی (رض) دغوند مجاهدینو هم خپلی قرارګاوی او پوځی قوتونه دګردیز په لور سوق کړل ، دحضرت عمر فاروق(رض) غوند ځواکونو دزرمت له استقامت څخه پرګردیز دحملی لپاره سوقیات پیل کړل او دابوجندل(رض) غوند هم دشرق له استقامت څخه دبرید لپاره دګردیز په لور پرمختګ پیل کړ .

همدارنګه دحقاني صاحب نوروجبهاتو هم خپل مرکزونه دګردیز په لور سوق کړی دیوې ستری او بریالی حملی لپاره دوسایلو او امکاناتو دنشتوالی سره سره دجهادی ځواکونو دسوقیاتو عملیی او بیا په ستراتیژیکو او حساسو نقطو کې دهغوی ځای په ځای کول او دمهماتو او اکمالاتو دلارو چارواو ارول طبعاً دوخت او فرصت غوښتنه کوله همداعلت ؤچې دمجاهدینو دغوندونو ، قرارګاوو او نورو پوځی تاشیساتو فعالول دمجاهدینو له لاسه تریوه حده دحملی لپاره دمساعده وخت او موسم فرصت ویوست .

له بلی خواد مجاهدینو دتعرضی ځواکونو دتوحید او انسجام پروسی هم دوخت او یو لړ کارونو غوښتنه کوله پدی توګه روان کال دوږی میاشتی په ۱٦ نیټه دژوره دحضرت عمر فاورق په جهادی او تاریخی مرکز کې دپکتیا او پکتیکا ټولو جهادی ځواکونو دیوی پرتمینی شورا په جریان کې پرګردیز دعمومی حملی پریکړه وکړه .

له حملی څخه مخکی الحاج مولوی جلال الدین حقاني په ستوکندو او زرمت کې عملیاتی احضارات له نژدی څخه معاینه کړل او له لازمو هدایاتو او پلان ورکولو وروسته د۱۳۷۰ لمریز کال دمیزان میاشتی په (۸) نیټه دسهار پنځه بجی او پنځلس دقیقی دابوجندل(رض) غوند مجاهدینو سروتی له خوا تعرضی برید پیل کړ مجاهدین په دیره چټکتیا سره دپرمختګ په حال کې ؤاو په چټکتیاسره یې منطقه ونیوله او دجنوب له لوری دزرګر کلا پوری رسیدلی وو.

الحاج حقاني دجهاد په سنګر کي دمخابري له لاري مجاهدینو ته دقوماندي ورکولو په حال کي

الحاج مولوی جلال الدین حقاني دقوماندی او ترصد په عمومی مرکز کې دمخابروی ارتباط او ځانګړو شفرونو له لاری چې په ګنو مواردو کې موږ هم دهغی بشپړه اندازه نشوی لګولی له بیلابیلو محاذونو او مرکزونو سره په ارتباط کې وو او لازم هدایات یې ورکول .

له غرمی مخکی ترلسو بجو پوری مجاهدینو دشیخان او میلن پوستی فتحه کړی وی پدی وخت کې دحقاني صاحب له خواتوپچی ځواکونو ته دانداخت دشدت قومانده ورکړی شوه چې دښمن له خوا دابوجندل (رض) غوند دمجاهدینو پرمختګ د سبوتاژ مخه ونیسی .

دحقاني صاحب له خوا توپچی ځواکونو ته قومانده ورکړی شوه چې په بلده انداخت ګړندی کړی ترڅو ددښمن دتعرض په نیت دراوتلیو ټانکونو دفعالیت مخه ونیول شوی دغرمی دوولس بجی او پنځه پنخوس دقیقی دګردیز له خوا د B.M41 دوی ګولی دقوماندی مرکز خیرمه ولګیدی ، پدی وخت کی دمجاهدینواودښمن دتوپچی قوتونو ډیر سخت جنګ جریان درلود ، دیوی بجی په شاوخوا کې دتیری دپوستو دفتحی خبر راورسید ، خو دښمن مخابره اخلال کړه او تفصیلی خبروانه وریدل شو.

دزرمت په استقامت هم مجاهدین خپلو مورچلوته رسیدلی ؤواوپه ۲ بجود له هغی استقامت څخه هم تعرض پیل کیدونکی ؤ .

دابوجندل(رض) غوند له خوا په مخابروی ارتباط کې څرګنده شوه چې دوی ددښمن ترډیری سختی ګولی باری لاندی دی ، حقاني صاحب له خوا یو ځل بیا توپچی قوتونو ته په بلده ددزو دشدت قومانده ورکړل شوه چې په خپل ټول قوت بلده تر انداخت لاندی ونیسی .

په دوبجو اوشلو دقیقو دښمن ددوهم ځل لپاره دګلاسنو(ګرنتی بمونو) سخته بمباری وکړه دغه بمباری دمجاهدینو داکمالاتی لارو پر سر په ډیره شدت سره روانه وه .

په همدغه وخت کې حقاني صاحب ددوربین په واسطه ټوله منطقه له نظره تیره کړه ویی ویل : ددښمن ټانکونه دفعالیت په حال کې دی او غواړی دحوزی له سره انداخت پیل کړی .

پدی وخت کې یو ځل بیا ددښمن له خوا دمجاهدینو په اکمالاتی لارو سختی ډزی وشوی .

له ابوجندل(رض) غوند څخه دمجاهدینو له خوا دخیرت راپور راغی په رپوټ کې وویل شول دښمن دتعرض په حال کې دی غواړی فتحه شوی پوستی بیرته ونیسی ، خو مجاهدین په ډیره میړانه مقاومت کوی .

پدی وخت کې دټانک له پوستو څخه هم دمجاهدینو په مرکزونواو اکمالاتی لارو ډیر سخت انداخت کیده .

له غرمی وروسته دری بجی دزرمت له استقامت څخه هم دمجاهدینو دتعرضی حملی خبر راورسید دمازدیګر په څلورو بجو موږ له محترم حقاني صاحب څخه اجازه وغوښتله ، اودتوپچی

په(۵)مخ

دسرتیرو مجاهدینو یوه ډله سنګر ته دتلو په لار

دمرحوم مولانا مفتی محمود په یاد

پردیس

پوره لس کاله وراندی په ۱۹۸۱ کال داکتوبر په ۱٤ پاکستان دیوه ستر عالم اولیډرپه ویر ویرجن شو . نه یو ازی پاکستان بلکی «دعالِم مرګ دعالَم مرګ دی » پرینا ټوله اسلامی نړی له یوزړه ور عالم او پیاوړی لارښود نه بی برخی شوه په دغه ورځ دسرحد نامتو عالم « حضرت مولانا مفتی محمود » په کراچی کی دیوه دینی رکن زکات او عشر په باب دوینا په حال کی خپل روح ستر رب (ج) ته وسپاره .

حضرت مولانا مفتی محمود د ۱۹۱۹ کال په جنوری میاشت کی دډیره اسماعیل خان په یوه وړوکی کلی کی دنیا ته سترګی وغړولی ، لومړنی دینی زده کړی یی په خپل کلی کی ترسره کړی اود لوړ و زده کړو لپاره «ددیوبند » دارلعلوم ته ولاړ - او په ۱۹٤۱ کال کی له مدرسی نه ترفارغیدو وروسته راغی او په تدریس یی پیل وکړ په ۱۹٦۲ م کال کی یی دایوب خان دصدارت په دوران کی په انتخاباتوکی برخه واخیستله او دملی شورا وکیل انتخاب شو وروسته یی له ایوب خان سره داسلامی قوانینو دنه نافذولو پرسر اختلاف راغی او دشورا له غړیتوب نه یی استعفا ورکړه په ۱۹٦٤ کال کی دمصر دالازهر پوهنتون د زر کلنی جشن په کنفرانس کی دګډون بلنه ورکړل شوه او مفتی صاحب په دغه ستر جشن کی ګډون وکړ - هلته یی دالحاد ی فتنی ، کشمیر ربړی او لویدیځ سنکیلاك په منافقتونو عالمانه وینناوکړه چی د مفتی صاحب دغه وینا دکنفرانس دګډون کوونکو لخوا ډیره توده استقبال شوه

دپاکستان د ۱۹۷۰ کال په انتخاباتو کی یو ځل بیا مفتی صاحب د خپل جوهرښودلو لپاره راډګرته شو په دغه انتخاباتو کی بوټو په لاهور کی په یوه انتخابی حلقه کی دشرق سترفیلسوف علامه محمد اقبال زوی جاوید اقبال ته ماته ورکړه خو همدغه بوټو په ډیره اسمعیل خان کی درویش صفته عالم مفتی صاحب په مقابل کی مات شو اومفتی صاحب په زیات اکثریت سره یو ځل بیا پارلمان ته ولاړ ، مفتی صاحب دپاکستان دواحد ملك دنه ټوټه کیدو په لارکی ډیر دقدر وړ خدمتونه کړی دی چی دپاکستان په تاریخ کی به په زرینو کرښو لیك وی . هغه په ۱۹۷۲ م کال کی په سرحدی ایالت کی داعلی وزیر په حیث لوړه وکړه او له دی سره سم یی داسلام نفاذ ته ملاوتړله ، شرعی حجاب لازمی وګرځول شو ، دشرابوپه خرڅولو او څوړلو بندیز ولګول شو . دغربی لباس پرځای کمیس او پرتوګ درسمی ملی لباس په حیث ضروری شو دجهیزناروا لعنت لغو اعلان شو دقمار هډی وتړل شوی دسود دبندولوپه باب پریکړه وشوه ، خو وروسته بیادمرکزی حکومت دناروا چلن په وجه هغه له خپلی کابینی سره استعفا ورکړه او بالاخره په ۱۹۸۱ میلادی کال په کراچی کی دزکات او عشر په باب یوې غونډی ته دخطاب په وخت کی ناڅاپه دخبرو په منځ کی چوپ شو او بیا هغه په همدغه حالت کی له خپل حقیقی خالق او مالك سره وصل شوی ؤ .

مولانا مفتی محمود دنیمی وچی له سترو علماؤ نه یو ؤ هغه دعلماؤ یو ځواکمن ګوند « جمعیت العلمای اسلام » جوړکړ او همدغه ځواکمن ګوند دی چی دنورو اسلامی ګوندونو سره یوځای په پاکستان کی دفساد او الحاد پرضد په جهاد بوخت دی. مفتی صاحب دافغانستان دمجاهدینو کلك ملاتړ وکړ . هغه دافغانستان جهاد یوازی دافغان جهاد نه بلکی دټولی اسلامی نړی جهاد باله ، دمفتی صاحب اصولی تګلاره او عقیده وه چی نن هم جمعیت العلمای اسلام دافغانستان دجهاد ترشا کلك ولاړ دی موږ ددغه ستر عالم دوفات دیادونی په ترڅ کی دهغه روح ته دخدای (ج) درحمت دوعا او په افغانستان کی داسلامی نظام دقیام غوښتنه کوو ، پردی هم اعتراف کوو چی که په پاکستان کی دمرحوم مفتی صاحب مرحوم مولانا عبدالحق صاحب او نورو دحق علماؤ غوندی پیاوړی او په اسلام مین علماو شهید ضیاءالحق او جنرال فضل حق غوندی مومن جنرالان نه وای ښایی زموږ جهاد له ډیروستونزو سره مخ وای اودازادی اواسلامی نظام تر سر منزل پوری موږیات مزل اوکړاوونه په مخکی پاتی وای له خدایه دافغان جهاد اواسلامی امت ټولوخیر غوښتونکوته دجنت الفردوس دوعا کوو په ګران هیواد کی داسلامی نظام دقیام په هیله(والسلام)

جهادي ادب

ستوری مو دبخت په اسمان وځلید
جوړمودمورچل په لور بهیر شولو
وګوره لړزه پرجهان ګډه شوه
بیا موغړ اوچت چې دتکبیر شولو

دکور غل

شفیق

څه به پردې ژاړم چې ماتم مې په خپل کور کې دی
زما دسرغلیم سپیره قدم مې په خپل کور کې دی
چاته له ناسور ناسور زخمونو نه څه ووایم ؟!
ولې له اغیارسره همدم مې په خپل کور کې دی
لاره که کوربه په نخښنه نکړي غل به څه راشي ؟
سوځم ځکه سوځم چې ستم مې په خپل کور کې دی
نه دی ملامت که دستم خونی لښکرراځی
ځکه دپردو اشنا ، صنم ! مې په خپل کور کې دی
ستادهوسونو اخترونه به زه څه کړمه ؟
واوره نړی،واوره چې محرم مې په خپل کورکې دی
ماته خوشحالي امن او سوله تش لفظونه دي
وینی مې بهیږي اولوی غم مې په خپل کور کې دی
نشته له بل چا سره زما دزړه درنځ دارو
نورو بیمار کړی یم مرهم مې په خپل کور کې دی

زه ولي مسلمان...

دالله تعالی بنده یم .

دځواب په اوریدو یې یوه سخته څپیړه پر مخ راکړه چې څوګامه وړاندې پړمخې ولویدم اوپه ژړا سر شوم .

دجال په امرانه لهجه راته وویل : دلته راشه !

زه په ویره ویره دهغه لوری دتګ په تکل شوم چې غوږونو ته مې درسول الله مبارك غږ راغی :

« لومړی زما خواته راشه ! »

ماچې مبارك پیغبمر(ص)ولید حیرانی واخستم ، ماویل مبارك خو ما آبل پرون په مکه مکرمه کې ولید اوس بیا دلته څه ډول راورسید ، زه ددجال دڅپیړی له درده دوه زړی دپیغمبر (ص) حضور ته ودریدم ، رسول الله (ص) دمینی او شفقت لاس زما په ملاراتیر کړاو ویی وفرمایل :

ګوره ! زه یوازی ستا لپاره دلته راغلم ، ددجال خبره هیڅکله هم ونه منې زه ستا لپاره دوعا کوم، که دخدای (ج) رضا وی ته به هیڅکله هم پاتی رانه شې ،دایی وفرمایل اوبیرته ولاړ او زه ددجال مخې ته ورغلم هغه بیا هم همغه ړومبی پوښتنه وکړه او ما بیا همغه ځواب ورکړ هغه له غوسی نه توراوشین اولمبه لمبه شو ،اوچې کله هغه زما پر سر دګوزار لپاره لاس پورته کړ نو له ډهمهٔ مې ترخوله یوه کړیکه ووتله ، اوله دی سره زما سترګی وغړیدلی بیا ترسهاره ویده نه شوم .

نور مې له ځانه سره کلکه پریکړه وکړه چې سهار « بوچهال » ته ولاړ شم ، نو داسلام راوړلو اعلان به کوم .

محترمی مور مې چې دپخواپه څیر ناشتا مخې ته کیښوده اوراته کیناستله ،نو زما په زړه کې دجذباتو یوتوپان راوالوت ، پوهیدم چې دامې ورروستی ځل دی ، چې دمور تر پښو لاندی ډوډی خورم ، او نور له خپلو پلار ،مور او خویندو نه دتل لپاره جلاکیږم ، له نن نه وروسته به نور بیا په ژوند کې هم دغه کورته رانه شم ، دغه کور ته چې دژوند ډیر پسرلی اودوبی مې پکی تیر کړی وو .

ماپه پلمو پلمو دخپلو وروڼوخویندو پر سر دمینی لاس راکش کړ همدغسی مې په پلمه اوبهانه دمور لاسونه ښکل کړل اوخپل وروستی احترام مې یی پر ځای کړ ، خپل کتابونه مې راواخستل له دروازی نه مې یو ځل بیا دکور ټولو غړو ته په حسرت وکتل اوپه ګجنوسترګو مې دښار لاره ونیوله ، د۱۹۳۸ کال دمارچ څلورمه نیټه دجمعی مبارکه ورځ چې دمحرم دلومړۍ ورځی سره برابره وه ، ما غسل وکړ نیغ مولانا عبدالروف صاحب ته ورغلم ، اودهغه په لاسو داسلام په مبارك دین مشرف شوم او زما اسلامي نوم غازی احمد کیښودل شو .

نوربیا

ننګیالي او خاطري یي

دایی یوه بله بیلګه

هوکی ! داهیواد له زرګونو داسی بیلګونه ډك دی ، همدایی سرمایه ده همدایی دویاړ اوعظمت ستر یادونه او یادګارونه دی ، که ووایو چې دوطن شیلی اوخوړونه ددښمن په لاشونو چاډك کړی دی ؟

که پوښتنه وشی چې دهیواد له لمنی نه دالحاد اوفساد لښکری چا تیښتی ته اړی کړی ؟

سمدستی سړی ته همدغسی څیری رامخی مخی ته کیږی ، همدغسی پراخ تندی ، نورانی بشری اونه ماتیدونکی ارادی .

ته به وایی په متواو تندی یې تیار لیکل شوی چې پری کیدای شی ، چیتدای شی خو دکفر اوالحادپه مخ کې په ذلت ټیټیدای اوځوړند کیدای نه شی سړی چې ورته ګوری همدغسی احساس کوی ځکه څیره یې دهمغه توپانی جذبو تیارتصویر دی چې غرونه اوبولای شی .

اوچې کارنامی یې واوری نوبیه ګوری چې شاوخوا دنګ دنګ غرونه یې هم عظمت اوشهامت ته سلامونه کوی ، دعصر دستری پیښی عینی شاهد اودننګ ددګرمیرنی اتل دی ، اودننګ اوجنګ په کیسو اوحماسو یې زه ، ته موږ ټول او ټول ملت اوامت ویاړی ، دادننګیالیو کاروان ننګیالی لاروی ځان داسی را پیژنی :

فتح خان دصالح الدین زوی دمندوزی علاقه داری اودخوست دلویی ولسوالی اوسیدونکی یم ، دکفر پرخلاف مې په ۱۳۶۰ کال ټوپک ته لاس اچولی اوپه ۱۳۶۷ کال کې دسلمان فارسی (رض) په غونډ کې شامل شوم اوپه ۱۳۶۸ کال کې دتوری غاړی دفتحی په جریان کې دمین دچاودنی په اثر له یوی پښی نه دتل لپاره محروم شوم .

په ګردیزکی ......

فتحه شوی ، اوس یواځی دغو یګری پوستی چې دازغنی شمال ته واقع دی یواځی داپوستی او بله پوسته دښنوزیو دکلی تر څنګ دحبیب کلا په خوا کې دښمن دتوپچی قرارګاه پاتی ده چې ددی لپاره هم نن مازدیګر دتعرض پروګرام نیول شوی نن سهار چې مجاهدینو دښنوزیودغر دسر پر پوستو حمله وکړه هغه کامیابه حمله وه دوهم تعرض مازدیګر ته تاڅیر شو اوس دمجاهدینو توپچی قوتونه اماده دی اوددری په شاوخوا کې توپچی قوتونه دخوست تر پله پوری ځای په ځای شوی دی .دښمن هیڅ پرمختګ ندی کړی مجاهدینو په فتحه شویو پوستو کې ۳ ټانکونه دوه زرهپوش ،نقلیه وسایط ، شلکا ، دهشکی ، زیګویك اونوری وسلی په غنیمت نیولی دی .

دپرون ورځی له عملیاتونه تر نن پوری ددښمن هیڅ تعرض ندی لیدل شوی توپچی یې هم کمزوری دی یواځی سکډ او اوراګانی یې انداخت کوی خوهغه هم چندان مؤثر ندی .

اوباید ووایم چې مجاهدین به ډیر ژر دتیری کندو ونیسی او کیدی شی دشرق اوغرب له طرفه هم ددفاع خط مات کړی .

دجنوب له خوا ددفاع خط مات دی او مجاهدینو دجنوب له اړخه ډیر زیات پر مختګ کړی دی .

محترم حقانی صاحب دګردیز اوسیدونکو پوځی افسرانو او منسوبینو ته په خپل پیغام کې وویل:

موږ ټولو افسرانو، دولتی منسوبینو او ملیشو ته مخکی له مخکی عفوه اعلان کړی. موږ ددوی مرګ ژوبله نه غواړو دوی باید لدی فرصت څخه استفاده وکړی او له مجاهدینوسره یو ځای شی پدی صورت کې ددوی سراو مال په امن دی .

اوکه دوی همداسی دولس

په(۷) مخ کې

داسلافو یادونه ، دعبرت درسونه

لیکنه او ټولونه : سید عبدالمنان

حضرت شفیق بلخي (رح) دیوې هدیرې په خوا کې تیریدو خپلو ملګرو ته یې مخ راواړاوه ، ویې ویل څومره خلك چې دلته پراته دي داټول درواغجن دي ، ملګري یې حیران شول اوپوښتنه یې ځنی وکړه ، جنابه ! په مقصد مو پوه نشوو.

شیخ بلخي (رح) ورته وویل :

دغو خلکو به په خپل ژوند ویل زموږ سره مال دې دولت دې لوښه دي زامن دي او ...

اوس تاسې ووایې که چیرې دغه شیان په رښتیا ددوي ملکیت واې نویو څوبه یې له ځانه سره وړې وې ؟

***

دحضرت حمد ون قصار (رح) تقوی اوپرهیز ګاري تردې پورې وه چې یو ځل دخپل یوه ناروغ اشنا سرته دهغه په کور کې ناست ؤ پدیکې یې داشنا ساه وخته او روح یې پرواز وکړحمدون صاحب سمدلاسه دتیلو ډیوه مړه کړه خلکو ترې وپوښتل صاحب داولې : ویې فرمایل تراوسه پورې دډیوې تیل زموږ داشنا مال ؤ ، او اوس دیتیمانو مال دې موږ نور تیل نشو سوځولې .

***

سلطان علاوالدین ثاني بهمني دجمعې دلمانځه خطبه لوستله او ورسره یې دځان متعلق دغه الفاظ هم استعمال کړل

السلطان العادل الکریم الحلیم والروف علی عباداللہ الغنی علاء الدنیا والدین .

ددغو الفاظو په خلاصیدو سره یو عربي سوداګر پاڅید منبر ته یې ځان نږدې کړاو ویې ویل :

ته درواغ وایې نه عادل یې اونه کریم نه روف یې نه رحیم یې ته ظالم یې درواغجن یې دمسلمانانو په منبر کینې او دروغ وایې او...

دحقیقت راښکاره کولو نه وروسته معلومه شوه څه وخت مخکې چې بادشاه دعربي سوداګرنه کوم اسونه اخستي وو ، دسرکارې خزانې واکدارانو سوداګرته داسونو قیمت نه ؤ ورکړې سلطان چې دخپلو مامورینو له دغه ناوړه کار څخه خبر شو ، په چیغو چیغو په ژړا شو او سمدلاسه یې سوداګرته داسونو قیمت ورکړ دبرهان ماثر مصنف لیکی :

له دې څخه وروسته سلطان بیا له خپله درباره راونه ووت ترهغه چې مړې یې له دربار څخه وویستل شو .

***

حضرت جنید بغدادي فرمایې مادخدای پاك لپاره دکار کولو لارې چارې له یوه سلماني څخه زده کړې او هغه داسې چې یو ځل په مکه معظمه کې زما سنت ببر شول زه دومره بې وسه او تش لاسې وم چې دسلماني داجرې لپاره مې یو درهم هم نه درلود ، زه مجبور شوم یوه سلماني ته ورغلم او ورته ومې ویل دخدای درضا لپاره به زما سنت جوړ کړې ؟

سلماني پدې وخت کې دبل یوه تن په کار بوخت ؤ هغه سړی یې نیمګړې پریښود ، او زما سنت یې جوړ کړل پدغه وخت کې دسلماني سترګی له اوښکو ډکی وی ماته یې څه پیسی تکی دنورو ضرورتونو لپاره هم راکړی او راته ویې ویل پدې خپل ضرورتونه پوره کړه ماپیسې واخیستې او په زړه کی مې له ځانه وپتیله چې کله هم زما لاس ته پیسی راغلې زه به هغه ټولې دغه سلماني ته ورکوم دخدای پاك کارونه ؤ ، لږ وخت پس دبصرې نه زما په نوم یوه داشرفیو ډکه کڅوړه راغله مابې له ځنډه سلماني ته وړاندې کړه هغه زما په سوغات حیران او وارخطا غوندې شو او راته ویې ویل :

تاته شرم نه درځي ایا تا ماته دانه ؤ ویلی چې سنت مې دخدای لپاره جوړ کړه او ته یې اوس ماته معاوضه راکوې . مادخدای دپاره کار کړې څوك دی چې ماته دغه معاوضه راوګرځوي اوبدل یې راخلاص کړې ما چې دسلماني خبرې واوریدې ، له ځانه سره ډیر خجالت شوم اوبیرته ترې راوګرځیدم ..

په گردیز کي کمونستان دماتی اوگریز ...

له غرمي وروسته دري بجي دزرمت له استقامت څخه هم دمجاهدینو دتعرضي حملي خبر راورسید، دمازدیگر په څلورو بجو موږ له محترم حقاني صاحب څخه اجازه وغوښتله اودتوپچي دقرارگاه په لور وخوځیدو.

دقرارگاه په لور وخوځیدو .

دجگړی دوهمه ورځ ١٣٧٠/٧/٩

دسه شنبی په ورځ له غرمی وروسته دټانگ پر پوستو دمجاهدینو دتعرض لپاره وخت ټاکل شوی ؤ .

موږ دقوماندان محمد اسمعیل په ملتیا دجگړی دلومړنی خط په لور وخوځیدوزموږ منزل په دره گی دغلگی په سیمه کي ددښمن دټانك پوستو په لور وه چې هلته دجگړی په لومړنیو لیکوکي مجاهدین دتعرضی حملی لپاره چمتو کیدل .

دغلگی په خوړ کي دسلمان فارسی (رض) ٣- ٤ پیاده قرارگاوی او مرکزونه پراته وو .

دقوماندان حاجی اسمعیل په مرکز کي چې دجگړی لومړنی خط ته ډیر نژدی دی ، دحقاني صاحب دجبهاتو پر مجاهدینو مهمات وویشل شول اودمجاهدینو دوو ټانکونو دحملی لپاره حرکت وکړ.

دسلمان فارسی (رض) غونډ مجاهدینو هم په منظمو لیکو کي ددغه تعرض لپاره خپل سوقیات مکمل کړی وو .

پدی وخت کي ددښمن دټانکو نقل او حرکت هم ولیدل شو ، په څلور بجو او پنځه څلویښت دقیقو دمجاهدینو تعرض پیل شو نژدی یو ساعت ددواړو خواو دتوپچی اونورو درنو وسلو سخته مقابله روانه وه .

دښمن په مختلفو درندو وسلو لکه اوراگان ، بی ام ٤١ ، اوبوس توپونو او ټانکونو دمجاهدینو دپرمختگ لاری اوشاوخوا سیمی تر سخت انداخت لاندی ونیولی دمجاهدینواو دښمن دزغروالو قواو ترمنځ ډیره سخته مقابله وشوه دیوه ساعت شدیدی جگړی په ترځ کي دټانگ دواړه پوستی او دمکتب پوسته فتحه شوه او مجاهدینو سمدلاسه له دښمن څخه نیول شوی شلکا اوټانك ددښمن پرضد استعمال کړ په همدغه شپه دزغی دسرقرارگاه هم فتحه شوه ، پدغه جگړه کي ٤ تنه مجاهدین شهیدان او ١٨ ټپیان شول .

مجاهدینو په دغه پوستو کي دوه ټانکونه یوه شلکا ، دهشکی ، اوزیگویك اونور مختلف النوع وسله په غنیمت ونیوله .

دجگړی دریمه ورځ ١٣٧٠/٧/١٠

پدغه ورځ دسهار په ٨ بجو مجاهدینو دجماعت پوسته فتحه کړه پدغه پوسته کي ددښمن یو ټانك ویجاړ کړی شو، له غرمی مخکی په لسو بجو مجاهدینودحوزی دسردوی پوستی فتحه کړی اوددښمن هغه ټانك دمجاهدینو دراکټ په ډزو ویجاړشو چې د٨ تنو لوړ رتبه صاحب منصبانو مړی یې گردیز ته لیږدول .

داوخت مجاهدینو پداسی استقامت محاربوی فعالیتونه اجراءکول چې دخوست تر پله له دښمن څخه مقاومت سلب کړی شوی ؤ .

په لسو بجو اوپنځه څلویښت دقیقو ددښمن یو سکډ په ستوکندو کي دمجاهدینو تر کنترول لاندی سیمه کي ولگید ، په دوولس بجو اوشلو دقیقو دوه نور سکډ توغندی هم پدی سیمه کي ولگیدل ، لدی سربیره توله ورځ دبمباری سلسله روانه وه او دمجاهدینو اکمالاتی لاری بمباری کولی .

په دوونیمو بجو له گردیز څخه دبنوزیو دجلم کلاخواته ددښمن ټانکونه دفعالیت او حرکت په حال کي ولیدل شول حقاني صاحب دمجاهدینو توپچی ته پر هغوی دانداخت قومانده ورکړه چې دشدید انداخت له امله بیرته وتښتیدل .

دماسپښین ٣ بجی بل سکډ دستوکندو په یوه برخه کي ولگید حاجی خلیل الرحمن په ٤ بجو ددښمن دقرارگاه وو په لور دخپلو زرهی ځواکونو دحملی خبر ورکړ .

دماسپښین په ٣ بجو دبنوزیو دقرارگاه په امنیتی پوستو مجاهدینو تعرض پیل کړ دښمن غوښتل خپل مړي یوسی خو دمجاهدینو دشدید انداخت له امله په شاه تگ ته اړ شول .

دمازدیگر په پنځو بجو دمجاهدینو دانداخت له امله دگردیز دتوپچی بطریی اور واخیست اوداور لگیدو له امله ډیرۍ سختی چاودنی

دمزدور رژیم دوحشیانه بمباري یوه نمونه

پکی وشوی چې نژدی ٣ساعته سختو چاودنو او ٦ ساعته داور لمبو دوام درلود .

دگردیز دتوپچی بطریه درادار اومخابراتو په منځ کي واقع ده اوددغه اورلگیدنی له امله دفرقی گڼو برخو ته هم درانده زیانونه اوښتی دی ، دگردیز په جگړو کي دمجاهدینو دحملو په مقابل کي ددښمن مقاومت ډیره کمزورېنه لرله ، اوزیاتره پوستی دمجاهدینو دیوه ساعته جگړی په ترځ کي تسلیم کیدو ته اړ کیدل ، دښمن ته یواځی دهوایی بمبارداو سکډ توغندیو لار بیرته وه دجگړی په ٣ ورځودښمن ٦ سکډ وویشتل دلوړی ارتفاع له امله هوایی بمبارد هم دومره موثرنه واقع کیده او سکډ هم دغرنیزسیمی دموقعیت له امله اغیز منتوب له لاسه ورکړی ؤ.

دجگړی دقوماندی په مرکز کي ما له الحاج مولوی جلال الدین حقاني څخه دگردیز جگړی دصورتحال په رابطه پوښتنه وکړه چې په ځواب کي یې وویل : څومره چې موږ تحلیل کړی دجگړی وضعه ددری اوهمدارنگه دغلگی او ستو کندو په طرف لدی کبله چې دایوپخوانی ترانزیتی سرك دی او دښمن دخوست له فتحی مخکی دمحاصری دماتولو لپاره دالار ډیره تینگه ساتله ، دوی غوښتل ستو کندو ونیسی چې خوست ته لار پرانیستل شی دخوست له فتحی وروسته یې هم ډیر کوشش وکړ چې ستو کندو ونیسی څو پر گردیزدمجاهدینو دتوپچی مخه ونیسی که داسی شوی وای مجاهدینونشوای کولی ، دجنوب په استقامت پر گردیز عملیات پیل کړی .

له همدیه ځایه وه چې موږ له خوست څخه مجاهدین دستو کندو په استقامت سوق کړل او په ستو کندوکي مو خپلی مورچې او مرکزونه تینگ کړل .

دښمن هم خپل دفاعی خط ددری دمکتب زاوه اودنجیب کلا په استقامت ډیر قوی کړی ؤ ډیر بندونه اوقرارگاوی یې جوړی کړی وی ،او دگلم جم ملیشی یې هم اچولی وی .

ددوشنبی له ورځی راهیسی چې دمجاهدینو کوم عملیات پیل شول نو پدی کي مجاهدینو دجنوب جنوب شرق او شرقی منطقی ته ښه پر مختگ وکړاو ډیری پوستی او ټانکونه یې ونیول خو دغرب او شمال له طرفه دومره پیشرفت ونه شو ، ځکه پدغه استقامت ډیر مینونه غوړول شوی ؤ ټانکونو ته هم عوارض پیښ شول او دیاودنی وړ پیشرفت ونه شو په شرقی او شمال شرقی منطقه کي دښمن څو پوستی بیرته ونیولی ، پرون ددری په استقامت اونن شپه دبنوزیو تر قرارگاه پوری مجاهدین ورسیدل ددغه استقامت جگی پوستی ددری مکتب پوستی دازغنی قرارگاه دجماعت پوستی ، دحوزی دکندو دسرپوستی

پاتی په (٤) مخ

دسعادت په لور

زه ولی مسلمان شوم ؟

پروفیسور غازی احمد « پخوانی کرشن لال » پاکستانی :

پروفیسور غازی احمد په اسلامیاتو اوعربی ادب کي ماستری شهادتنامه لری اودعلمی رتبو سره سره یې دری طلایی مډالونو هم اخستی ، دپنجاب په پوهنتون کي د پروفیسور اودجهلم په یوه اعلی ښوونځی کي مدیر پاتی شوی دی ، هغه خپل ژوند داسلام دمطالعی اواسلامی نظام دقیام لپاره وقف کړی دی ، په دی وروستیو کي یې دخپل اسلام راوړلو داستان په یوه کتاب کي خپور کړی دی ډیر په زړه پوری او رواپال ، دلته یې لنډیز سره لولو :

زه په ١٩٢٢ کال کي دجهلم په یوه لری کلی کي په یوه هندو کورنی کي زیږیدلی یم ، پلار او مور راباندی نوم کرشن لال ایښی ؤ زمادکورنی غړی سخت متعصب هندوان وو ، په پیل کي زه هم ددوی دعقیدی پیرو وم ، خو کله چې اتم ټولگی ته ورسیدم ، ناڅاپه می دسوچ واگی اسلام په لور راواوښتی ، دغه وخت دبوچهال کلی له یوه عالم مولانا عبدالروف صاحب سره زما لیدنه کتنه وشوه ، هغه ماته په دلایلو داسلام حقانیت ثابت کړ ، زه دهغه له تبلیغ نه ډیر اغیزمن شوم ، خو دازما دوړوکتوب زما نه وه اودخپل پلار ، مور خویندو اوتربرونوله دین اومذهب نه داوښتلو تصور به می په وړوکی زړه کي دوهم زلزلی گډی کړی ، زما معصوم ذهن به په داسی تصور ولړزیده ، کله به می چې داسلام دقبلولو پوښتنه په زړه کي رازرغونه شوه نو ورسره سم به می دمور ، خویندو اونوری کورنی مینه هم په زړه راووریده ، دوړوکوالی بی تجربه گی اوخاموالی زه کومی غوڅی پریکړی ته پری نښودم.

دمارچ په لومړی په ١٩٣٨ م کال دشپی مایوښکلی اومبارك خوب ولید زه په مکه معظمه کي دبیت الله شریفی په مخه کي ولاړ وم ، حضرت سیدالمرسلین محمدمصطفی (ص) دکعبی دیوال ته تکیه کړی ده او زما مخی ته تشریف لری شاوخوا ته مبارك اصحابان (رض) تری راچاپیر دی ، زه دیاغی جذباتو اومینی په توپان کي له صحابه کرامو (رض) نه ور وړاندی شوم اودپیغمبر (ص) مخی ته ځان وررسوم ، دستړی مشو لپاره لاس وراووږد کړم ، حضرت رسول الله (ص) جگ شی او زما لاس ونیسی ،کله چې لاس زما په لاس ولگیږی نو زمابدن له خوښی او سروره ډك شی ،محبوب لاربنود (ص) له مانه پوښتنه کوی :

ووایه دڅه لپاره راغلی یی ؟

زه یې په مخ کي عرض کوم : داسلام په مبارك دین دمشرف کیدو لپاره !

چې زما دځواب واوری ، دپیغمبر (ص) له مخ نه دخوښی وړانگی جگی شی ، بیا زما لاس په خپل مبارك لاس کي نیسی او څه لولی ، چې زه نه وریاندی پوهیدم ، بیا راته وایی :

بس نور ته داسلام په ویاړلی دین کي داخل یی .

کله چې زه سهار له خوبه پاڅیدم ، نو زړه می له خوښی نه ډك ؤ ،تردی چې کله دسهار ناشتیته دموړیه مخ کي کیناستلم مور می دخوښی او تازگی په باب پوښتنه رانه وکړه ،خو ما خبره په یوه اوبله پلمه وځنډوله ...

مدرسی ته چې ولاړم نو مولانا عبدالروف صاحب ته می دتیری شپی دمبارك خوب کیسه واورولە ، هغه راته وفرمایل چې هره ورځ کله ویده کیدی نو له خدایه هدایت وغواړه ، ما همداسی وکړل یوازی دوی ورځی وروسته د١٩٣٨ م کال دمارچ په ٣ مه دپنجشنبی په شپه ما بیا خوب لیده .

مالیدلی چې مدرسه وتړل شی ، زه دنورو زده کوونکو سره یو ځای کور ته راځم په لاره کي یو دنگ بنگ ، بدشکله اووهمناك بنیادم زموږ په مخه کي ولاړ وی ، چې کله زموږ سترگی پری ونښلی ، نو ټول له ویری په لړزه شو ، ما می ملگرو ته وویل چې دادجال دی ،که زموږ هریوه نه پوښتنه وکړی چې دچابنده یې نو ځواب به ورکوی چې دالله تعالی بنده یم.

بیا هغه زما له ملگرو نه ځانگړی ځانگړی همدغه پوښتنه وکړه ، کوم زده کوونکی به چې دده له خوښی سره سم ځواب ورکړ نو هغو ته به یې میوه ، شیرنی اودول ډول دلوبو سامانونه ورکول ، اوچابه چې دده دخوښی پرخلاف جواب ورکړ نو هغه به یې دمرگ خولې ته سپاره .

اخر زما وار راورسید پوښتنه یې رانه وکړه :

دچابنده یی ؟

ماپه ویره ویره ځواب ورکړ :

پاتی په (٤) مخ کي

دافغانستان دجګړی اصلی خواوی ، مجاهد ملت او روسان دی ، دکابل رژیم یوازی ۰ ۰ ۰

صفوفونه بهر پاتی کیږی ، او څوك چی حقیقتاً داعلای کلمة الله لپاره کارکوی له دغه مجاهدینو څخه به یو کوټلی قوت جوړ یږی ، اوددی دکامیابی ورځی زما په عقیده ډیری نژدی دی او خدای (ج) خپله وعده تر سره کوی چی (ان تنصرالله ینصرکم ویثبت اقدامکم)
پوښتنه : محترم مولوی صاحب پدی شپو او ورځوکی دمجاهدینو ځینی مشران غواړی دیوه لوړ رتبه هیأت په ترڅ کی مسکو او نیویارك ته سفر وکړی ددی هیأت دتللو په هکله ستاسی نظر څه دی ، او داکار به څومره دجهاد په ګټه یا تاوان تمام شی ؟
ځواب :ددی هیأت له لیږلو سره مونږ موافقه نده کړی ، او زه ګومان کوم چی زمونږ مجاهدین به دیوه اسلامی احساس او هغه داچی ظالم قوتونه تل ددی کوشش کوی چی دمظلوم له لوری څه تمایل وګوری ، او هغه هم څه تمایل ورسره وکړی او قرآن کریم داخبره رد کړی ده او ویلی یی دی چی مسلمان باید مداهن نه اوسی ،داکار نه کوی یو بله خبره داده چی د پښتونولی احساس هم دادی چی متجاوز دمظلوم کور ته ورځی ، نه داچی مظلوم دی دمتجاوز کورته ورځی . چی هغه مونږ په پښتو کی ننواتی بولو ، زه فکر کوم چی زمونږ دتنظیمونو مشران به پدی کی له غور څخه کار واخلی او دغسی پستی ته به ملانه تړی ، او که دوی داکار وکړی مونږ ورسره موافق نه یو ، او هغه وخت چی دوی دی کارته اقدام وکړی بیا به مونږ پدی هکله خپل نظر مفصل وړاندی کوو .
پوښتنه : تیرو ورځوکی نجیب خپل قلابی پارلمان (ولسی شورا) ته په ویناکی دقوماندانانو شورا ، ځینی تنظیمونو ، او په غرب کی له پرتو افغانانو سره په ګډه دیوه قومی حکومت دجوړیدو خبری کړی ، که پدی هکله خپل نظر وواياست؟
ځواب : داڅه نوی خبره نده ، نجیب دهغه ورځی نه چی راغلی همداخبری کوی ، جنګ هم دهمدی لپاره کوی . او سوله هم چی دده په حکومت کی خلك برخه واخلی ، خو دده حکومت چی افغانستان ته کوم سوغات چی راوړی هغه دافغانستان مجاهد ملت دلوی او واړه څخه پټ ندی .

> نجیب دهغي ورځي نه چي راغلي همداخبري کوي ، جنګ هم دهمدي لپاره کوي ، او سوله هم چي دده په حکومت کي خلك برخه واخلي ، خودده حکومت چي کوم سوغات افغانستان ته راوړي ، هغه دمجاهد ملت دلوي اوواړه څخه پټ ندي

نوکه دده په خبرو څوك دوکه خوری هغه دی همدلته ځان سره فیصله وکړی چی هغه به بیادهغه وروڼو په سرنوشت اخته کیږی چی ژوندی ترخاوړولاندی شوی دی .
داچی زمونږ قوماندانانو اعلان کړی چی که دنجیب دله غواړی ځان ته نجات ورکړی ، مخکی لدی نه چی پرهغوی باندی جګړه پیل شی او مخکی لدی نه چی نوری وینی توی شی هغه دی دمجاهدینو سره یو ځای شی ، مونږ به هغو ته عفوه وکړو ، داخبره هم شرعی ده او هم زمونږ په صلاح او مشوره باندی شوی ده . یعنی مونږ له هغی سره موافقت لرو ، خو دهغی دیو ځای کیدلو معنی دانده چی هغوی په خپل حزبی هویت باندی له مونږ سره ملګری شی هغوی به په خپلو تیرو اشتباهاتو اعتراف کوی ، دا ادعا به نه کوی چی مونږ مخکی هم مسلمانان وو او اوس هم مسلمانان یو .
پوښتنه : په افغانستان کی دسولی او امن دټینګښت لپاره او هلته دیوه ازاد اسلامی حکومت دجوړیدو لپاره دیوه نامتو جهادی مشر په حیث ستاسی طرحه څه ده ؟
ځواب : زمونږ طرحه داده چی ، جګړه زمونږ او روسانو ترمنځ پیل شوی ده ، او تراوسه پوری روانه ده داخبره دمنلو وړ نده چی زمونږ جنګ دکابل رژیم سره دی ، ځکه دابه هلته منل شوی وای چی دکابل مزدور رژیم دملت په پشتوانه باندی منځ ته راغلی وای ، او یا هغوی دروسانو له اوامرو پرته کوم کار کولای شوای ، دایقینی خبره ده چی که نن روسان ورته ووایی چی جنګ بند کړی ، جنګ به بندوی ، که ورته ووایی روسیی ته راځئ ، روسیی ته به ځی ، که ورته ووایی ځان مړ کړئ ځان به ووژنی او دادروسانو دملیشی حیثیت لری .
اصل طرفین دجنګ مجاهدملت او روسان دی .
زما په نظر اصلی طرحه داده چی په یوه بی طرفه هیواد کی روسان او دمجاهدینو نمایندګان په خپلو منځوکی پدی مسائلو بحث وکړی چی دوینی توئیدنی جریان څرنګه بند یدلای شی او پدی ځای دیوه عالی بین المللی حکم چی طرفین پری راضی وی ، دهغو ترمنځ دغه خبره وړاندی شی چی پرمونږ باندی کوم مظالم شوی دی ، او په افغانستان کی چی کومی ورانی شوی دی روسان که غواړی چی مونږ سره دهمجوار په حیث شپی ورځی سبا کړی ، او دی ته هم اجازه ورکوی چی افغانستان آزاد شی ، نو باید دی ته خپله امادګی وښیی چی څومره تاوان ورکوی ، او هغه قرا رداد ونه چی روسانو دخپلو مزدورانو سره کړی هغه ټول ملغاء شی ، او که واقعاً غواړی چی دا دوینی توئیدنی لړی ودریږی ، او ملګروملتوسازمان هم غواړی چی واقعاً دوینی توئیدنه بنده شی نوېدی توګه واقعی سوله راتلای شی ، او یومسلمان آزاداومستقل افغانستان به جوړ شی .
که داسی موامری روانی وی چی دروسانو مزدورانو ته دی هم پکی ځای ورکړل شی ، یا دلته دشیعه او سنی ترمنځ تفرقوته لمن ووهل شی یا دژبنی اختلافاتوته‌لمن ووهل شی که پدی ډول داخبری روانی وی ، اوپدی باندی دامسئله حل کول غواړی ، یاددی تر څوا پرمهاجرینو باندی فشارونه راځی ، چی مرستی پری بندیږی ، زه فکر کوم چی که نن پدی طریقه په افغانستان کی آرامی راشی هم دابه داسی آرامی وی چی هره ورځ به په افغانستان کی چاودنی کیږی ، اوا فغانستان لکه نن چی داور سکر وته ده داسی به داور کوره وی . او نن خو ددی جګړو مسئول خلك معلوم دی چی روسان دی ، سبا به بیاد هغی مسؤ ل خلك معلوم نه وی . که ددی سره څوك توافق کوی هغه هم سادګی ده ځکه چی اسلام پدی قوم حاکم نه شی ، او اسلامی حکومت رانشی هیڅ کله به هم غیر اسلامی حکومت پدی هیواد کی آرامی رانشی وستلای
پوښتنه : ددښمنانو دشدیدو تبلیغاتو سره سره زمونږ دجهادی مشرانو ترمنځ د یووالی او اتحاد څه اثر نه لیدل کیږی ، تاسی ددی عوامل څه ډول برسی کوی؟

> څوکاله مخکي دامریکا دبهرنیو چاروزیر مرستیال په اسلام آباد کي له موږ سره دخبرو په ترڅ کي وویل چي موږ نشو کولاي چي یو سترطاقت دي ، داوړوپوزي ته بغیر له افغانستان څخه ووزي

ځواب : ماخوڅو ځلی داخبره کړی ده ، چی سړی په کوم ځای کی کروندہ کی تخم وپاشی ، بیا څو ورځی وروسته هغی کی ځوزان ، او فصل یو ځای شین شی ، نو سړی ورته خوشحاله شی چی داټول فصل شین شوی دی ، خوکله چی قوت واخلی بیا سړی ته معلومیږی چی ځینی پکی ځوازان دی ، او ځینی پکی فصل دی ، اوځینی پکی تریخ بوټی وی نو هغه ترخه بوټی او ځوازان پرته لدی نه چی سړی هغی ته ګوډ ورکړی دنور وبوټو سره یوځای په خپله وده کوی او هغه فصل نور زحمتونه هم غواړی ، همداغسی دجهاد په لاره کې چی اوله غرږ وشوو ټول خلك راپاڅیدل ، او داټول دجهاد په نوم راپاڅیدلی ، خو اوس مونږ ګورو چی په کشرانو اومشرانو کی داسی خلك پیدا شوی دی چی هغوی داعلای کلمة الله څخه منحرف شوی څوك پد ی پسی دی چی ځان ته چوکی پیداکړی ، څوك پدی پسی دی چی نور قدرتونه له ځان څخه خوشحاله کړی ، او پدی پالیسی باندی له یوبل سره مخالف شوی هم دی ، زه فکر کوم چی په ټولو باندی ددی نوم ایښودل چی دامجاهدین دی ، او بیا ددی ټولو یو ځای کول ، داخیال او محال دی ، البته دایقینی خبره ده چی واقعی مجاهدین په هر تنظیم کی شته ، خو دهغو په خواکی هغه ځوزان ورسره دی چی نه پریږدی بل بوټی ته نژدی شی او وده وکړی ، که دغه مجاهدین چی داعلای کلمة الله لپاره کار کوی په خپله شااو خواکی تفکر وکړی او غیر مجاهد یعنی هغه څوك چی دجهاد په نامه نوری انګیزی پالی یادنورو فکرونو په اساس کارکوی ، له هغو څخه ځان را جلاکړی ، او دواقعی اسلام غوښتونکو مجاهدینوسره یوځای شی ، نو بیا به ددښمنانو ټولی دسیسی شنډی وی ، او داکار به ترسره شی ، غربی او شرقی استعمارچیانو لاس یو کړی تر څو دجهاد نتایج ټول له منځه یوسی ، نودا یو سخت ګذار دی ، نو ددی سخت ګذار په مقابل کی ممکن سخت مقاومت وشی ، او سخت مقاومت به دانتیجه راکړی چی واقعی مجاهدین به واقعی مشران به یو بل سره وپیژنی او دوی به سره لاس یوکړی ، او دابه هغه قوت جوړ شی چی دهغه سره به دالله (ج) مرسته ملګری وی او د (یدالله فوق ایدیهم)په حساب باندی به انشاالله داخلك کامیابیږی .

> که ددي پټو موامرو سره څوك توافق کوي ، هغه سادګي ده ځکه چي اسلام پدي قوم حاکم نشي ،او اسلامي حکومت رانشي هیڅ کله به هم غیر اسلامي حکومت دلته ارامي نشي راوستلاي.

جهاد هنداره : مولوی صاحب دمرکی په پای کی که مهربانی وکړی په سنګر کی پرتو مجاهدینو او دافغانستان مجاهد او شهید پالونکی ملت ته خپل پیام وواياست ؟
ځواب : زما ټولو مجاهدینو ته عرض دادی ، لکه چی ګورو نن سبا دمجاهدینو ترمنځ دتفرقی کوم اسباب چی دی ، هغه په موټرو وسلو او مادیاتو باندی دهغو ی دبروسی زیاتوالی دی ، او داسلامی فکر او نظر احساس کم شوی دی ، نوکه زمونږ مجاهدین په مادیاتو باندی ، یا پر موټرو ، او نورو شیانو پروسه وکړی او ددی لپاره له یو ځای نه بل ځای ته منډی وکړی او په خپل منځ کی سره متحد نشی بریالی کیدلای نشی.
نوزما نظر او توصیه هم ځان او هم دوی ته داده چی په مادی شیانو باندی بروسه ونکړی او په خپلو منځوکی دهغه چاسره لاس یوکړی چی هغه په نظریاتی ډول او په عقیدوی ډول د جهاد ملګری وی ولو که دهغه سره مادی قوت نه وی ، نو داددوی دانسجام او یووالی سبب ګرځی ، مجاهدین باید پدی نازکه مرحله کی خپلو اعمالو کردارو ته که هغه شخصی وی او که اجتماعی متوجه اوسی او که نه نوددوی داجهاد به ددوی له لاسه او ددوی دنمایندګانو له لاسه (خدای

باقی په (۷) مخ

دصوبه سرحدپخوانی والی جنرال فضل الحق په شهادت ورسید

پیښور : دمیزان ۱۲مه
په ډیری خواشینی سره مو خبر تر لاسه کړ چې دتیری پنجشنبی په ورځ دصوبه سرحد پخوانی والی ، وزیر اعلی او دصوبه سرحد داوسنۍ ایالتی شورا غړی تورن جنرال فضل حق په داسی حال کې دنامعلومو تروروستانو لخوا په ډیره بی رحمانه توگه دبی دریغه ډزوپواسطه په شهادت ورسید چې دسرحد دایالتی شورا دغونډی دپای ته رسیدلو ځخه وروسته خپل کور ته روان ؤ ، خبر ونه وایی چې تروریستان دخپل ناوړه او شیطانی هدف دپوره کولو ځخه وروسته په تیښته بریالی شول.خبر زیاتوی چې په ډزوکې دجنرال فضل حق ډرئیور او محافظ هم سخت ټپیان شویدی .

جنرال فضل حق دجمعی په ورځ په یولسو بجو په داسی حال کې چې زرگونو خلکو یې په جنازه‌ېگډون درلود خاورو ته وسپارل شو دارواښاد په جنازه کې دپاکستان جمهور رئیس غلام اسحق خان صدراعظم محمد نواز شریف دپوځ لوی قوماندان محمد اصف نواز جنجوعه دجماعت اسلامي مشر سناتور قاضی حسین احمد دجمعیت علما اسلام مشر سناتور مولانا سمیع الحق دصوبه سرحد والی امیر گلستان جنجوعه وزیر اعلی میرافضل خان برسیره پردی دافغانستان دمجاهدینو دمشرانو له جملی ځخه دحزب اسلامی مشر مولوی محمد یونس خالص دجمعیت اسلامی مشر استاد برهان الدین ربانی ، داتحاد اسلامی مشر استاد سیاف ، زیات شمیر مهاجرینو اودپاکستان نورو مرکزی اوایالاتی وزیرانو ،دسناد مجلس ملی شورا ولایتی شوراگانو غړو اونورو سیاسی اوپوځی شخصیتونو گډون وکړ.

جنرال فضل الحق دصوبه سرحد یوازینی شخصیت ؤ ، چې په خپل ژوند کې یې په پوځی چوکی سربیره په نورولوړو چوکیو هم دنده سرته رسولی وه .

په پاکستان کې دشهید جنرال ضیاالحق دنظامی حکومت سره جوخت جنرال فضل حق دصوبه سرحد والی مقرر شو چې اته کاله پدغه چوکی کې یې له مسوولیته دکه وظیفه سرته ورسوله ، نوموړی دپوځ ځخه دتقاعد نه ځه موده وروسته دسنا دمجلس غړی وریسی دصوبه سرحد دعبوری دوری دوزیراعلی په صفت دبی نظیر بوتهو دحکومت په دوران کې دملی شورا دغړی اوپه پارلمان کې داسلامي جمهوری اتحاد (مخالفی ډلی) دمشر دمرستیال په ټوگه دندی سرته رسولی دی دپارلمان له ماتیدو ځخه وروسته جنرال صاحب دصوبه سرحد ولایتی شوراته دغړی په حیث بریالی شو چې دشهادت تروختته پوری دولایتی شورا غړی ؤ.جنرال فضل الحق دافغان مجاهدینو له ډیرو نږدو او خواخوږو دوستانوځخه ؤ چې په ډیرو سختو شرایطو کې دمجاهدینو او مهاجرینو هرډول مرستی اوملگرتیا ته په ډاگه دریدلی ؤ .

دنوموړی شهید وروړ په بی رحمانه‌شهادت‌سخت خواشینی اودکورنی دغړو سره یې پدغه درد اوغم کې برابر شریك یو دالله تعالی ځخه مغفرت اوبخښنه ورته غواړو .

دافغانستان دجگړی اصلی خواوی ...

مکړه) پلورل کیږی . نوکه مجاهدین که جنگ کوی هم باید یو نظر ولری چی زه دا جنگ کوم ددی نه څه نتیجه اخیستی شم .

که داسی وی چی یوازی ځان هم مړ کوو او بل هم ، او پدی فکر کی نه وی چی مونږ ددی رهبری لپاره څوك باید انتخاب کړو او مونږ څه لاره غوره کړو ، که دافکر ورسره نه وی زه باور لرم ، چی تباهی به ډیری راشی او امنیت به په منطقه کی برقرار نشی ، او مجاهدین به هم خدای مکړه خپل ارمان ته ونه رسیږی

وهم پرسته هندوانو درومی بادنجانو اوپالکو خوړل بند کړل

نوی ډهلی ، دمیزان ۱۲مه :
دهند ځخه خپریدونکی جریدی (اندیا تودی) په خپله یوه گڼه کی لیکلی چی دهند دحیدراباد په سیمه کی درومی بادنجانو اوپالکو پر کرونده یوډول دسبزی چینجی حمله کړی ده ، وهم پرسته هندوان چی کله له دغه وضعی ځخه خبر شول نو پدی گومان شول چی گواکی ددوی معبودان لدوی ځخه ناراضه شوی دی او دچینجی په شکل یی دهغوی په کرونده حمله کړی ده .
هندوانو له دی ویری چی کیدای شی پر دوی دمعبودانو غضب نور هم زیات شی درومی بادنجانو او پالك دخوراك ځخه یی بالکل ډډه کړی . ددی سیمی خلکو ویلی دی چی کوم چا مار وژلی اودغه کروندی ته یی اچولی ، اوپدی توگه د«دیوتا » یامعبود دناراضی سبب شوی دی ، وگوری دشرك اوکفر په تیارو کی لالهانده گمراهان اوتری نه عبرت واخلی ای دعقل خاوندانو ؤ

انفجار یک دیپوی مهمات درفرقه ریشخور کابل

کابل ، میدیا :
یك منبع جهادی ولایت کابل به میدیا گزارش داد که مجاهدین بااستفاده سلاح های ثقیله فرقه ریشخور کابل راهدف انداخت قرار دادند که در نتیجه ۸ نفر از منسوبین خادهلاك ۳ نفر مجروح و دیپوی نمبر دوم غند ۸۸ فرقه مذکور منفجر گردید .
منبع علاوه نمود در انفجار مذکور یك تعداد وسایط راکتی ومخابراتی بشمول ۲۵۰ فیر مرمی راکت حریق گردیده است .

گردیز دمجاهدینو تر اتلوالو بریدونو لاندي

پکتیا دجهاد هنداری خبریال :

دپکتیا ولایت دالحاج مولانا جلال الدین حقانی دجبهاتو ځخه دمیزان د۱۵ می نیټی دمازدیگر مخابروی رپوټ څرگندوی چی زړورو مجاهدینو دهمدی ورځی په عملیاتو کی دگردیز دمحاصره شوی ښار جنوب ختیځ لوری ته د«بنوزیو» او«باد اسیا » تر منځ ددښمن دوه قرارگاوی او د«گلدین » ، «حبیب » ، «حلیم » او «ولسوال » په نامه یی ددښمن ځلور پوستی فتحه کړی او ددښمن دوه ټانکونه یی سوی دی ، پدی قرارگاووا وپوستو کی ددښمن ځخه یو ۷۶ کوهی توپ اویو زیات شمیرسپکه وسله په غنیمت نیولی د ه پدی عملیاتو کی چی دښمن ته درانه مالی او ځانی تاوان وراوښتی دمجاهدینو ځخه ۳ کسه شهیدان شوی او ۵ تنه نورټپیان شوی .

همدارنگه دغه مخابروی رپوټ زیاتوی چی ددښمن هغه هلیکوپترالوتکه چی دگردیز له ښار ځخه یی دمزدور رژیم دقواوو ۳۰ تنه ټپیان بار کړی وواو دکابل په لور روانه وه دمجاهدینو دډزو له امله راوغورځول شوه اوټولی سورلی یی له منځه لاړی.

په خبرونو کی ویل شوی دی چی ددښمن پر مرکزونو جگړه په شدت سره روانه ده.

دجهاد له مورچلونو ځخه دجنرال فضل الحق دترور په اړه دالحاج حقاني پیغام

دجنوبی محاذونوعمومی قوماندان الحاج مولانا جلال الدین حقانی دگردیزله تودو مورچلونو ځخه دتورن جنرال فضل الحق دترور په اړه یو لنډ پیغام مخابره کړی چی متن یی په لاندی ډول دی :

په خواشینی سرمو خبر ترلاسه کړ چی دسرحدی ایالت پخوانی والی جنرال فضل الحق دیوی ډلی تروروستانو لخوا ووژل شو.

جنرال فضل الحق یوغیرتی او میړنی سپاهی ؤ چی دخپل ملك او اسلام لپاره یی دقدر وړ خدمتونه تر سره کړی دی .

جنرال فضل الحق دافغان جهاد له پیاوړو ملاتړ کوونکو ځخه ؤ ، اودده په شهادت غیرتی مجاهدین له یوه غیرتی اوخواخوږی انصار ځخه محروم شول .

دجنرال فضل الحق خدمتونه او ملاتړ به زموږ مجاهد ملت هیڅ کله له یاده نه باسی اویقیناً دافغان جهاد په افتخاراتو کی دقربانی پر ډگر ولاړو مجاهدینو تر ځنگ دشهید ضیاالحق اوجنرال فضل الحق په ځیر مومنو انصارو له رول نه هیڅ انکار نشی کیدای له خدای (ج) نه دغه غیرتی جنرال ته دبخښنی او جنت الفردوس دعا کوو او کورنی اوخپلوانو ته یی دصبر جمیل غوښتنه کوو.
والسلام

همدارنگه الحاج مولانا نظام الدین حقاني هم دجنرال فضل الحق په وژنه خپله ژوره خواشیني دیوه پیغام په ترځ کي ځرگنده کړي ده

په گردیز ...

پرضد جنگیږی بیا هلته دوی دملت په وړاندی مجرم اومسوول دی اوکه چیری دوی جگړی ته دوام ورکړی په هغه صورت کې حتمًا له مجاهدینو ځخه شهیدان کیږی.

بیا به هلته دمجاهدینو داحساساتو کنترولول گران کار وی ، خو موږ بیا هم هڅه کوو لکه په خوست کي مو چې ددوی له اسیرولو وروسته ورته عفوه وکړه دوی عفوه کړو خوهلته به دوی په تیښتو سترگو ژوند تیروی .

ځکه اوس دوی ته دغالب کیدو فکر کول یوحماقت دی ، او زموږ پوخ باور دی چې ددوی باطل سنگرونه به انشاءالله نړیږی ، اودادوی لپاره یو طلایی چانس دی او مخکی لدی چې په شرمیدلی توگه ونیول شی له مجاهدینو سره دی یو ځای شی او دعزت او درناوی ژوندی پیل کړی .

دځواکمنو جهادی ډلو مشرانو دعبوری حکومت دجوړیدو په اړه دروسیی وړاندیز رد کړ

لندن ، دمیزان ۱۲ مه :
دبی بی سی رادیو خبرورکړی چی دافغان مجاهدینو دځواکمنو ډلو مشرانو په افغانستان کی دعبوری مرحلی دحکومت دجوړیدلو لپاره دروسیی دبهرنیو چارو دوزیر اوسنی وړاندیز چی دغه حکومت کی دی دمزدور رژیم اوسنی صدراعظم فضل الحق خالقیار هم برخه ولری رد کړی اوغندلی دی .
دبی ، بی ، سی دخبر له مخی داسلامی حزب مشر مولوی محمد یونس خالص ، داتحاد اسلامی مشر استاد سیاف ، دجمعیت اسلامی مشر استاد برهان الدین ربانی اودحزب اسلامي حکمتیار نماینده قطب الدین هلال دروسانو لخوا دغه شیطانی وړاندیز دجهاد اومجاهدینو په وړاندی دکفری ځواکونو گډ سازش بللی دی .
خبر ځای زیاتوی دافغانستان پخوانی بادشاه ظاهرشاه هم دغه وړاندیز رد کړی اوغندلی یی دی .

انقلاب اسلامی ملت ما پیروز ...

جهاد نیز صداهای همیشه اشناوعزیزمجاهدین وپراز هیبت به ملحدین یعنی صدای «الله اکبر » همیشه طنین اندازبود ومجاهدین با ایمان‌ومورال عالی به فتح سنگرهای باقیمانده دشمن به پیش می تازند.

عملیات نظامی بر شهر گردیز که فتح ان انشاءالله یقینی وقریب است توانست مورال وموضع سیاسی جهاد راهرچه بیشتر تقویت نماید ، مجاهدین حلقه محاصره شهر گردیز راهرچه بیشتر ومحکم ترمی فشارند وبرای تصرف شهر گردیز اماده گیهای قبلی برای حفظ غنایم امنیت مال وجان مردم نیزاتخاذ گردیده است .

بعد از فتح خوست تصرف شهر گردیز بزرگترین پیروزی مجاهدین خواهد بود ، که میتواند مجاهدین راهرچه بیشتر به کابل نزدیك بسازد. فتح این شهر نه تنها از جهت سیاسی مطرح ومهم است بلکه ازنگاه نظامی نیز میتواند ، بالادستی مجاهدین رابرسنگرهای رژیم در جنوب کشور تامین نماید اگر بر هر دوبخش نظامی وسیاسی جهاد بنگریم الحمد لله نه تنها موازی وموافقانه پیش میروند بلکه نوید دهنده پیروزیهای جدید ودرهم شکستن اخیرین دژدشمن میباشد باید گفت که پیروزیهای جدیدکه بدست خواهیم آورد باب جدید گشوده خواهد شد ولی بهتر است‌که‌نیروهای جهادی تعین سرنوشت کشور ومردم خویش بیاندیشند ودرجهت بر قراری یك نظام واقعاً اسلامی به پیش گام برداریم ومحتاط باید بود که انقلاب اسلامی ماهنوز دشمنان وکینه ورزان فراوان دارد که در کمین نشسته اند. شاید تا به پیروزی راه ما چندان دور نباشد ، اما راه سخت پر خطر ودشوار در پیش است که باید با اتحادواتفاق با هوشیاری ویکرنگی وجرائت ایمانی واسلامی‌به‌پیش رفت .

دروسيې نوې وړانديزونه ...

روسانو په دې لړکې دنورو کفري او ښکيلاکي ځواکونو سره دګډ تفاهم په نتيجه کې کله دملګرو ملتونو دسرمنشي او دهغه ځانګړي استازي ، او کله هم دخپلو استازو په وسيله دځينو جهادي ځواکونو سره دمستقيمو خبرو اترو او کله هم دافغانستان دقضيې دسوله ايز حل دلارو چارو دپلټنې په باب په يوه او بل هيواد کې دغونډو او نخو اړخيزو خبرواترو اوکنفرانسونو دجوړولو او کله بيامسکو ته دمجاهدينو دهيئت دوربللو له لارې ددغې شومې هيلې دترسره کيدو لپاره مذبوهانه هلې ځلې کړيدي . پدې برخه کې څه موده دمخه په مسکوکې د افغانستان دجګړې پردواړو خواو دوسلې بندښت په اړه دروس - امريکا دبهرنيو چارو وزيرانو پنکن او جيمزبيکر دګډې موافقې داعلان په تعقيب تيره اونۍ دملګرو ملتونو د کلنۍ غونډې ترڅای ته رسيدو وروسته دځينو بې ځواکه اوغير موثر جهادي تنظيمونو دهيئت له مشر سره دوه دساعته ليدنې کتنې په نتيجه کې دروس دبهرنيو چارو وزير پنکن دافغانستان دقضيې دسياسي اوارۍ په اړه داسې وړانديز ونه کړې چې يا خو داچې دافغانستان دانتقالي حکومت رياست دې دمجاهدينو يومشرپه غاړه ولري ، خو دصدارت چوکۍ بايد دافغانستان اوسني صدراعظم فضل الحق خالقيار ته چې يو غير ګوندي شخص دې وسپارل شي ، اويا داچې دافغانستان پخواني پاچا محمد ظاهر شاه دې دانتقالي دورې دحکومت دجوړولو لپاره وګومارل شي .

اوياددې پيشنهاد په تعقيب داسې څرګندونې هم وشوې چې روس - امريکا دافغانستان دانتقالي دورې لپاره حضرت صبغت الله مجددي دجمهور رئيس په توګه پيشنهاد وي .

دافغانستان دقضيې دسياسي اوارۍ په اړه دروسانو دغه وړانديزونه چې په هغې کې دروسانو له مزدور رژيم سره دائتلاف اودجمهور رئيس په توګه دهغه يادغه شخص دټاکنې په باب خبرې شوې دې دافغانستان دخلورو موثرو اوځواکمنو جهادي تنظيمونو له خوا په کلکه رد شوې . دمولوي صاحب خالص او حکمتيار صاحب په مشرۍ دافغانستان اسلامي حزبونو ، دافغانستان اسلامي اتحاد اواسلامي جمعيت تنظيمونو ديو ګډ پريکړه ليك په ترڅ کې څرګنده کړې چې موږ دافغانستان دقضيې دسياسي حل په اړه دروسيې پيشنهادونه په کلکه ردوو او هغه دافغانستان دمجاهد ملت په داخلي چارو کې په ډاګه لاسوهنه ګڼو ، موږ چې په افغانستان کې ديو اسلامي حکومت دجوړيدو په تکل جهاد پيل کړې دې ،دابه تر وروستۍ برۍ پورې جاري ساتو ، هيڅ فرد يادولت داحق نلري چې افغانانو ته دهغه يا دغه شخص په مشرۍ دحکومت جوړولو وړانديز وکړي ، دادمجاهدوافغانانو طبيعي حق دې ، چې ځانته څه ډول حکومت جوړوي .

دسنګر مجاهدينو هم دروسانو او نورو کفري ځواکونو دوړانديزونو په مقابل کې دمزدور رژيم پر پوځي مرکزونو او حکومتي تاسيساتو باندې دپراخو او يو مخيزو حملو په چټکتيا سره درد ځواب ورکړې دې چې دبيلګې په توګه په ګرديز باندې دمجاهدينو دروانو يو مخيزوګډوعملياتو يادونه کولای شو ، چې دحملې دپيل نه تراوسه پورې په ډير کم وخت کې دښار دلومړۍ امنيتي کمربند په شمول (۶۰) لوی او وړې پوستې اوپوځي مرکزونه فتحه او ګرديز دبشپړې فتحې په درشل کې دې.

دمجاهدينو دغه وړيرله پسې سوبې او فتحې به داثابته کړي چې دوی کولی شي دروسانو مزدور رژيم ډير ژر رانسکور اوپر ځای يې پخپله خوښه يو سوچه اسلامي حکومت چې دوی دهغه دقيام لپاره دالحاد او فساد په وړاندې وسله وال جهاد پيل کړی او دادومره ستونزې او کړاوونه يې منلې اوزغملې دي ، جوړ کړي. دافغانستان مجاهد ملت په دې لار کې هيچا ته داحق نه ورکوي چې پر دوی دخپلې خوښې شخص او حکومت تحميل کړي ، دافغانستان دقضيې دحل په اړه هر هغه طرحه او وړانديز چې زموږ دمؤمن ملت دجهاد له اهدافو اوسترو آرمانونو سره تناقض او ضديت ولري مجاهدين يې مردود ګڼي او په افغانستان کې دالحاد او فساد دوروستيو ځالوترېشپړېدونکيدو،دمزدور رژيم درانسکوريدو اوپر ځای يې ديواسلامي حکومت تر جوړيدو به خپل وسله وال جهاد ته ادامه ورکوي ، همدغه يې ثابت اونه بدليدونکې دريځ دې او همدغه يې دقضيې دحل وفصل اساسي لاره ! !

په ګرديز باندې دبمبارۍ دمخنيوي لپاره دبګرام په هوايي ډګر ددرنو وسلو ډزې

پروان ، ميديا :

دپروان ولايت دکوه صافي څخه ميديا رپوټ ورکوي چې مجاهدينو دکابل رژيم دجيټ الوتکو دهغه پرلپسې بمبارۍ دمخنيوي لپاره چې دڅو ورځوراهيسې يې دکابل په جنوب ۱۰۰ کيلو مترۍ کې دپکتيا ولايت دګرديز په شاوخوا کې په مجاهدينويې پيل کړې دبګرام په هوايي ډګر باندې دخپلو توغونديو وېشتل نن دميزان په ۱۰ مه نيټه شروع کړل.

خبر وايي دمجاهدينو دغه بريدونه به دبګرام په هوايي ډګر باندې تر هغه وخته پورې دوام وکړي ترڅو درژيم الوتکې دګرديز اوشاوخوانورو ولايتونو دبمبارۍ څخه لاس وانخلي .

خبر ځای زياتوي چې دغه راز دکوه صافي مجاهدينو څه موده مخکې ديوه بريد په ترڅ کې دبګرام په هوايي ډګر کې دوه ولاړې جيټ الوتکې اويو پوځي بارك داور لمبه کړې چې ۱۲ تنه درژيم عسکر پکې دمنځه تللي دي .

ملاقات وزرای خارجه ۳ جمهوريت آسيای ميانه با منشی عمومی سازمان کنفرانس اسلامي

نيويارك ، ۱۲ ميزان :

دکتور حامد الغابد منشی عمومی سازمان کنفرانس اسلامي گفته است که ۳ جمهوريت مسلمان نشين ازاد شده از چنگال کمونيزم مسکو(تر کمنستان ، قرغزستان ، واذربايجان) فيصله نموده اند ، تاعضويت کنفرانس کشورهای اسلامی راکسب نمايند .

دکتور حامد الغابد گفته است که وزرای خارجه اين ۳ جمهوريت اسيای ميانه طی ملاقات های جداگانه به وی گفته اند که حکومت های انها طی مکاتيب رسمی اين درخواست خود رابه مرجع مسؤل سازمان کنفرانس کشورهای اسلامی تقديم خواهند کرد ، تا کشور های آنها عضويت اين سازمان راکسب وروابط اساسی با اعضای اين سازمان بر قرار نمايند .

اطلاعات در زمينه حاکيست که برای باراول نمايندگان اذربايجان وترکمنستان بحيث مبصرين ونماينده قزغستان بحيث مهمان در مجلس سازمان کنفرانس اسلامی شرکت خواهند کرد .

قاچاق اطفال خورد سال به ممالك عربی خليج فارس

کراچی روزنامه پاکستان :

از مدتی درازی به اينسو قاچاق اطفال خورد سال از مناطق مختلف پاکستان به کشورهای خليج فارس به شدت جريان دارد ، طبق يك احصايه غير رسمی تا حال اين قاچاقبران تنها از شهرکراچی ومناطق همجواران ۵۰۰ طفل را دزديده اند .

چندی قبل پوليس کراچی يك کشتی ساحلی را دريافتند ، که عده زيادی از اين اطفال قاچاق شده سورا آن بودند .

دريك خبر گفته شده است که تا حال ۱۹ هزار طفل از پاکستان بطور قاچاق ربوده شده اند .

يك اطلاع موثق از ممالك خليجی حاکی ازانست که اين اطفال رابر سرشترهامی بندند ، شتروقتی چيغ وفغان اين اطفال رامی شنود به سرعت بدوش می پردازد ، وبيننده ان ازاين حالت لذت می برد .

فاعتبرو يا اولی الابصار !

حالات اضطراری درالجزاير منسوخ گرديد

الجزاير ، ۱۳ ميزان :

نظام حالات اضطراری که از چهار ماه بدينسو درکشور الجزاير نافذ گرديده بود دو روز قبل از جانب حکومت ان کشور منسوخ گرديد .

گزارش های رسيده ازان کشورحاکيست که همگام با برداشتن نظام حالات فوق العاده تظاهراتی شديدی در شهر الجزيره مرکز ان کشور برپا گرديد ، وطی آن شعارهای تند وتيزی برخلاف حزب حاکم آن کشور تکرار گرديد.

مظاهره کنندگان که اکثريت انها متعلق به جبهه اسلامی نجات الجزاير بودند ازحکومت خواستند تا الجزاير را جمهوريت اسلامی بسازند ، همچنان انها خواستار رهايی رهبران زندانی خويش گرديدند.

مظاهره کنندگان شاذلی بن جديد رئيس جمهور فعلی الجزاير را متهم نمودند که موصوف قصداً جريان انتخابات رابه تعويق می اندازد .

دهيئت تحرير تر نظر لاندې

مکاتباتي پته

پوست بکس (۱۰۳۳)
يونيورسټي تاون پيښور
ټيلفون : ۸۱۲۸۸۱

کمپوزر: احمد ضيا «ذهين بابري»

دهيواد په تودو مورچلو کې

کابل :

ميديا به اساس پيام مخابروی مجاهدين ولايت کابل گزارش می دهد که مجاهدين منطقه چکری (خورد کابل) روزهای ۵ و ۶ ميزان ميدان هوايی خواجه رواش را مورد حمله اسلحه ثقيله خويش قرار دادند ، گرچه نتايج اين انداخت ها معلوم نگرديده ولی گفته ميشود که همه راکت هابه هدف خود اصابت نموده است .

همچنان روز ۹ ميزان يکبار ديگر ميدان هوايی خواجه رواش راهدف اتش سلاح دوربرد خويش قرار داده اند .

که نتايج دقيق از تلفات دشمن معلوم نيست ، گفته شده که مجاهدين به ساکنان اطراف ميدان هوايی مذکور اطلاع داده اند تا هرچه زورتر منطقه را تخليه وبه محل ديگری بروند ، درغيران مسوولبت هر حادثه بدوش خود آنها خواهد بود .

لغمان :

ميديا دلغمان ولايت دجهادي منابعو په حواله رپوټ ورکوي چې مجاهدينو دميزان په ۹ مه نيټه ددې ولايت دامنيتي کمربند پرپوستو بريد وکړ چې ددښمن ۳ پوستې يې فتح درې تنه مليشه يې مړه ،او ۲۰ تنه نور يې ژوندي ونيول .

همدارنګه ترڅو مخکې پر مهترلام باندې ددرنو وسلو په ډزو سره ددښمن يو عراده زغروال ټانك ، يو ميل زيګويك اويو ميل توپ له منځه يوړل .

وردګ اوميدان :

ميديا دجهادي منابعو په حواله رپوټ ورکړې چې ددې ولايت مجاهدينو دميزان په ۳ مه نيټه دميدانښار د«دغلو غونډې» او «قاضي قلعه» پر پوستو بريد وکړ چې په نتيجه کې ۳ پوستې فتحه ۱۶ تنه وژل شوي او ۱۲ نور ژوندي نيول شوي دي .

مجاهدينو درژيم ٤ عرادې زغروال ټانکونه ويجاړ کړې اويوه عراده ټانك د۱۱ ميله وسلې سره په غنيمت نيول شوې دي.

هرات :

ميديا دهرات څخه دتورن اسماعيل خان درپوټ په حواله خبرراکوي چې مجاهدينو درژيم پر هغه اکمالاتي قطار چې دهرات څخه دزنده جان ولسوالۍ لورې ته روان وو دخواجه ګان عليا په سيمه کې بريد وکړ اودرانه مالي او ځاني تاوانونه يې دښمن ته ورواړول .

همدارنګه په يوه بل بريد کې مجاهدينو دزنده جان ولسوالۍ مربوطاتو کې درژيم يوه عراده ټانك دسپرليو سره له منځه وړې دی .

بغلان :

ميديا دبغلان له ولايت نه خبر تر لاسه کړی چې مجاهدينو دکابل رژيم يو تعرضي بريد ددې ولايت په مرکز ، زاړه ښار او جوهر تپه سيمو کې په شا تمبولی اودښمن ته يې درانده مالي او ځاني تاوانونه وراړولي دي .

همدارنګه رپوټ وايي چې ددې ولايت مجاهدينو ددښمن پر قواو په دوو بيلابيلو بريدونو کې ۲٤ تنه مليشه عسکراو صاحب منصبان وژلي او يو شمير يې ټپيان کړي اودښمن ۳ عرادې زغروال ټانکونه يې له منځه وړې دي .

فارياب :

به اساس گزارش ميديا مجاهدين همه تنظيم های جهادی مستقر در فارياب باحمله متحدانه خويش برمواضع مليشه های بدنام رژيم درولسوالی قيصار ۲۳ تن انها را کشته و ۲۰ ميل کلاشينکوف همراه با ۱۵ ميل اسلحه ثقيله را به غنيمت گرفته اند ، يك خبر ديگر می گويد طی حمله بر يك غند ديگر مليشه مجاهدين توانستند ، ۱۸ تن انها را هلاك و ۳ ميل کلاشينکوف انها را به غنيمت بگيرند .

بدخشان :

ميديا به قول منابع جهادی از ولايت بدخشان گزارش می دهد که مجاهدين قهرمان طی حمله بر پوسته شبخ سياه واقع ۵ کيلومتری شهر فيض آباد پوسته مذکور را فتح ، ۵ تن از افراد مليشه گلم جم را همراه با يك قوماندان کشته و ۱۵ تن ديکر انها را به اسارت گرفته .

همچنان ۲۲ ميل اسلحه مختلف النوع نيز به غنيمت گرفته شده .

طبق يك خبر ديگر ميديا از بدخشان طی زد وخوردی که بين افراد خاد ومليشه گلم جم در شهر فيض آباد مرکز بدخشان صورت گرفته ۱۰ تن از طرفين کشته وعده زيادی مجروح شدند .

قوای رژيم يك تن از وابستگان خارندی ، بنام حسن شاه فروغ راجهت ميانجيگری بين دوکره درگيرفرستاد ولی افراد گلم جم موصوف را بعد از لت وکوب شديد زندانی نموده اند .